# الرسالة

**Al-Risala**

**اوومه کـــــــــنه – جولای ، ۲۰۲۵ ز**

Ketabton.com



بنده یوه خبره کوي او په دې خبره کې هېڅ باک نه وینې. خو د دې خبرې له امله دا انسان اویا کاله د دوزخ په اور کې سوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الرسالة

# Al-Risala

اوومه ګڼه – جولای، ۲۰۲۵ ز

سرپرست: مولانا وحیدالدین خان

ژباړه: رحمت شاه فراز

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په دې ګڼه کې


| | |
|---|---|
| د زوال نښې دي | ۶ |
| د هند او عربو تعلقات | ۷ |
| د ژبې مسئله | ۱۱ |
| د رکوع او سجدې صحنه | ۱۵ |
| په دې کې ستاسې لپاره پند دی | ۲۳ |
| د اسلام دور علمي او تصنيفي کار | ۲۷ |
| خځلې او کثافات هم بې ګټې نه دي | ۳۳ |
| د ځواک سرچينه ستاسې دننه ده | ۳۵ |
| د مسايلو نوعيت | ۴۰ |
| قرآن: يوه ژبنۍ معجزه | ۴۱ |


او نور ډېر څه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هغوی ژوند د خدای په سیوري کې تېرېده

د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې په خپلو حریفانو کومه هیښوونکې سیاسي بریا ترلاسه کړه او په څه ډول یې چې خپل دین په یوه بشپړه جغرافیه غالب کړ، دا په بشري تاریخ کې د خپل نوعیت لومړنۍ واقعه ده. زموږ پخواني مؤرخین او سیرت لیکونکي چې کله د نبي کریم ص دې کارنامو ته رسېږي، نو خپله خبره په دې ټکو کې پای ته رسوي، چې «په نبي کریم ص به وحي نازلېدله او ټول اقدامات به یې د خدای له لارښوونو سره سم ترسره کول.» د تعبیر دغه انداز دومره عام دی، چې روایت پرسته مؤرخین خو لرې پرېږده، د ابوالحسن ماوردي، ابویعلی الفراء، ابن تیمیه، ابن قیم او ابن قتیبه په څېر خلک هم په کې مستثنا نه دي.

د سیرت پاسنی انداز په ظاهره د نبي کریم ص د عظمت او تقدس هم‌معنا ګڼل کېږي. خو په حقیقت کې د اسلام د پیغمبر یو ډول تصغیر دی او پیغمبر علیه السلام له لارښود شوي توغندي سره د برابرولو په معنا دی. بې له شکه چې حضرت محمد ص د الله پیغمبر و او له الله تعالی نه به هدایات ورته راتلل. خو د دې په خوا کې نبي کریم ص اعلی‌ترین انسان او اعلی‌ترین مؤمن هم و. نبي کریم ص د عامو انسانانو لپاره یو معیاري بېلګه و او په عمل کې یې دا وښودله، چې یو انسان چې کله ځان رښتوني دین ته ځانګړی کړي او د خدای په ذکر او مینه کې مشغول شي، نو له خدای سره یې لازواله تعلق پیدا شي. او د جلال او جمال په سرچینې پورې داسې مربوط شي، چې هغه ذات په رڼو سترګو ویني. له هغه سره یې د راز او نیاز خبرې اترې رواني شي او د ژوند هره شېبه یې د هغه په سیوري کې تېرېږي. د اسلام د پیغمبر تعلق له خپل رب سره یوازې د جبرایل علیه السلام له لارې نه و، بلکې نبغه اړیکه یې هم وه. او همدا هغه تعلق و، چې دروازه یې د هر انسان لپاره د هغه د وس په اندازه خلاصه ده او دا تعلق په قرآن کریم کې په تدبر سره، په لمانځه کې په مشغولېدو سره، په کایناتو کې په غور او فکر سره، هره شېبه د خپل رب په یادولو سره، په ژوند کې د صبر، شکر او قناعت په غوره کولو سره، ځان دعا او استغفار ته په ځانګړې کولو سره، د خدای په یادونو کې په ډوبېدو سره جوړېږي. مؤمن بنده چې په دې ډول ځان له خپل رب سره وصل کاندي، نو په حیرانوونکي ډول هغه بصیرت په کې پیدا شي، چې شیان د هغو د اصل حقیقت په اعتبار ویني او دا وړتیا ترلاسه کوي، چې «د خدای په نظر کتل وکړي، د خدای په پښو وګرځي او د خدای په لاسونو نیول وکړي.»

د اسلام پیغمبر چې له خپلو حریفانو سره کوم سیاسي معاملات وکړل، که هغه له وړاندې څخه د نازل شویو لارښوونو له مخې وای، نو ولې په قرآن کریم کې په ګڼو ځایونو کې نبي کریم په یوه اقدام یا پرېکړه نیول شوی او ورته ویل شوي دي، چې پیغمبره! تا باید داسې نه وای کړي. دا پخپله په قرآن کریم کې یو څرګند مثال دی، چې د دې مسئلې اصلي اړخ په روښانېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په ستاینه خوشالېدل او په تنقید پارېدل، د زوال نښې دي

فاني بدیواني (۱۸۷۹ -۱۹۴۰) ویلي دي، چې د دنیا رنګینی سره له دې چې ډېرې بې معنا او پوچې دي، خو په خپل ظاهر کې دومره کشش لري، چې انسان همدې رنګینیو ته د حقیقت په سترګه ګوري. ډېر کم داسې کېږي، چې یو انسان دې فریب ونه خوري او له دې منظرو نه دې اخوا فکر وکړي:

فریب جلوه اور کتنا مکمل اے معاذ الله
بڑے مشکل سے دل کو بزمِ عالم سے اٹھا پایا

په دې کې شک نشته، چې د دنیا له رنګینو نه ځان هسکول ډېر مشکل کار دی. خو د دې ډلې خلک هم ارومرو پیدا کېږي او سمه ده چې شمېر به یې کم وي. خو له دې «هسکېدو» نه ور اخوا یوه بله سطحه هم شته او له هغې نکتې که وکتل شي، نو بیا به مو د کامیابو وګړو شمېر له کمیابۍ هم راوغورځي او د نایابۍ کرښې ته به راټیټ شي. او هغه سطحه دا ده، چې ځان له مقید فکر (Conditioned Thinking) نه ازاد کړای شي. هر انسان چې په کومو حالاتو کې پیدا کېږي او رالویږي، د هماغه له مخې یې د شخصیت په شاوخوا کې د چاپېریال او تصوراتو یوه دایره جوړېږي، یو فکري مدار جوړېږي او بیا دغه مدار او دایره د انسان له شخصیت نه راچاپېره وي.

له دې نامحسوس مدار نه بهر فکر کول او په بشپړه معنا خپلواک فکر او نظر ته رسېدل، دومره پېچلی کار دی، چې په دې ډله کې هغه خلک هم مستثنا نه دي، چې په ظاهره د خپلواک فکر بیرغ جګوونکي په نظر کې راځي.

ویل کېږي، چې فضایي توغندی چې کله د ځمکې له مدار نه د بلې سیارې مدار ته ننوځي، نو د بهرني پوست په نقطه کې یې له چاودنې سره یو زبردست اواز پیدا کېږي. همدا قانون به ښایي د انساني ژوند لپاره هم وي. یو انسان هغه وخت له خپل مدار نه خپلواک شعوري مدار ته رسېږي، چې د خپل هغه فکري پوست ځیري کولو ته بشپړ تیاری ولري، چې د رواجي تصوراتو او ماحول په اغېز کې یې په لاشعوري ډول تر ځانه چاپېر شوی وي.

یو انسان کله د دې جوګه کېږي، چې ځان له دوديز مدار نه خپلواک مدار ته ورسوي؟ د دې ځواب دا دی: چې کله ځان داسې جوړ کړي، چې پخپله ستاینه خوشالي احساس کړي او نه په خپل ذاتي تنقید بده ومني. یو انسان په کوم کچه کې دی؟ په دې راز باندې د پوهېدو لپاره یوازنی باوري نښه همدا ده.

که انسان د خپل ذات په مدار کې راڅرخېږي، نو ځان له دې څخه نه شي ژغورلی، چې خپله ستاینه دې ښه پرې ونه لګېږي او په ذاتي تنقید دې ونه پارېږي. مګر هغه چې له خپل شخصي مدار نه راهسک شوی وي، هغه هېڅ کله په دې مرض باندې نه شي مبتلا کېدی. ده ته به ستاینه او غندنه دواړه بې معنا ښکاري. په دې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی به حقایقو ته له دومره لوړې سطحې ګوري، چې له هغه ځایه به د ماحول اغېزې د ده لپاره یو خارجي شی وي. سره له دې چې له ځینو اړخونو به چاپېریالي اغېزې پرې پرتې وي، خو دی به بیا هم حقایق داسې لیدی شي، لکه یو انسان چې د خارجي دنیا یو شی له لرې څخه نندارہ کوي.

مولانا سید سلیمان ندوي

# د هند او عربو ترمنځ د اړیکو تاریخ زرګونو کلونو ته رسېږي

هندوستان او عرب، د نړۍ هغه ملکونه دي، چې له یوه اړخه یې ګاونډیان هم بللی شو. د دې دواړو ترمنځ یوازې سمندر حایل دی، او سمندر خو لکه یو پراخه طبیعي سړک داسې دی، چې دواړه ملکونه له یو بل سره نښلوي.

د سیندونو په غاړه پراته هېوادونه فطرتاً تجارتي ملکونه وي او همدا هغه لومړنۍ اړیکه ده، چې نوموړي دوه قومونه یې له یو بل سره اشنا کړل. عرب تاجران به له زرګلونو کلونو نه د هندوستان ساحل ته راتلل او د دې ځای تولیدات به یې د مصر او شام له لارې اروپا ته وړل او د هغه ځای مالونه به یې هندوستان، هندي ټاپو، چین او جاپان ته رسول.

دا ټولو ته معلومه ده، چې د هندوستان ټول لیکدودونه بلکې ټول آریایي لیکدودونه له کینې اړخ نه لیکل کېږي. خو د حیرانتیا خبره دا ده، چې د آریایي قوم لومړني لیکدودونه له ښي لوري پیلېږي چې د سامي لیکدودونو ځانګړنه ده. په دې سربېره، د شمېرو لیکلو طریقه هم ښایي لرغونو هندیانو له عرب تاجرانو څخه زده کړې وي.

په بریټانیکا دایرة المعارف کې د سنسکرت تر عنوان لاندې مقاله کې دا تحقیق راوړل شوی دی، چې «د هندي لیک لرغوني نمونې هغه کتیبې دي، چې په تیرو باندې توږل شوې. دا مذهبي کتیبې په ۲۵۳ ق‌م کې د اشوکا امپراتورۍ توږلې دي. یادې کتیبې په دوه ډوله دي. یو هغه چې له ښي لوري نه کینې لوري ته لوستل کېږي، چې «آرین پالي» یې بولي. بله ډله کتیبې هغه دي، چې له کینې لوري نه ښي لوري ته لوستل کېږي، دې ته «هندي پالي» ویل کېږي.

پروفیسر بولر بیا په دې اند دی، چې شاید د عراق تاجرانو به په اتمه میلاد مخکې پېړۍ کې دا توري دلته رواج کړي وي.»

د ستیارت پرکاش لیکوال سوامي دیانندجي خبره که سمه ومنو، نو د مهابهارت په زمانه کې په هندوستان کې داسې خلک هم وو، چې له عربي ژبې سره بلد وو، ده لیکلي دي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«په مهابهارت کې چې کله کورو-وانو غوښتل چې پانډوان تباه او برباد کړي، نو ودرجي یدشتر په عربي ژبه کې یوه کړې او بدشتر جي په همدې عربي ژبه کې ځواب ورکړ.»

په یوه روایت کې نبي کریم ص فرمایلي، چې «په ما باندې د هندوستان له لوري رباني ورمې لګېږي.» نو په ابتدايي زمانه کې لا عربانو په کثرت سره هندوستان ته مخه راکړې وه او د محمود له راتلو سلګونه کلونه دمخه یې په ګوټ ګوټ کې کالونی جوړې کړې وې.

عربان د خپلو تجارتي بېړیو د خوندیتوب لپاره په هند کې د ساحلي بندر په لټون کې وو. د اسلام له راتلو وروسته په هندوستان باندې د عربانو اولنی یرغل په ۱۵هـ (۶۳۶ز) کې د بمبی په بندر باندې و او دغه برید یې د بحرین د والي په امر کړی و.

په ۸۶هـ (۷۰۵ز) کې د دمشق په تخت باندې ولید اموي کېناسته. دې خلیفه د عراق، ایران، مکران او بلوچستان یانې د حکومت د شرقي سیمو لپاره حجاج خپل ځایناستی واستاوه او هندوستان او هندي ټاپوګانو ته یې خپل پام واړاوه. په دې وخت کې د هند په زیاترو ساحلونو کې د عربو تاجرانو تجارتي بېړۍ د بحري غلو له چور او تالان سره مخ وې.(البیروني) تر (۲۲۴هـ) پورې سومنات او کچ د بحري ډاکوګانو ترټولو لوی پناه‌کوټونه وو.

د حجاج په زمانه کې یو ځل د سند په بندر باندې دېبل ته نیږدې ډاکوګانو د عربانو په یوه بېړۍ باندې چاپه واچوله، چې ښځې هم په کې سپرې وې. دې خلکو حجاج ته ویر وکړ. حجاج د سند راجه داهر ته ولیکل، نو راجه خپل عذر وړاندې کړ، چې دا بحري غله زموږ په واک کې نه دي.

په همدې منځ کې دا واقعه هم پېښه شوه، چې له مکران نه ځینې عرب مجرمان او باغیان راوتښتېدل او په سند کې یې پناه واخیسته او د راجه داهر تر لاس لاندې یې خپله یوه ډلګۍ جوړه کړه.

تر هغه وروسته حجاج د خپل ځوان وراره محمد بن قاسم په مشرۍ کې له شیراز نه شپږ زره‌کسیز لښکر سند ته ولېږه او یو څه پوځ یې له سامان سره د بحر له لارې سند ته روان کړ او د مرستې لپاره یې د ایران له لرغوني لارې د وچې له لوري هم پوځونه ورواستول.

په ۹۳هـ کال کې محمد بن قاسم سند ته ورسېده او د درې کلونو په موده کې یې له ملتان نه تر کچ او د مالوه تر سرحده پورې ولکه وکړه او په ټول سند کې یې د عدل او سولې بیرغونه هسک کړل.

په ۹۶هـ کال کې ولید له نړۍ نه سترګې پټې کړې او د واک ګدۍ یې سلیمان ته ورسېده. له حجاج او د هغه له کورنۍ سره سلیمان شخصي دښمني لرله. ده په همدې کال د حجاج له نورو کسانو سره محمد بن قاسم له سند نه بېرته وغوښته او بالاخره د شخصي انتقام په نشه کې یې محمد بن قاسم وواژه.

په دې ډول د اموي خلیفه په لاس هغه شخص په بې‌رحمانه ډول ووژل شو، چې تاریخ یې په هکله راته وایي چې «کله محمد بن قاسم له سند نه بېرته ستنېده، نو د سند ولس د خپل نېک‌خویه او عادل فاتح په بېلتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې اوښکې تویولې او د هغه په یادانښت کې یې د ده مجسمه ودروله.» (تاريخ فتوح البلدان بلاذری باب فتح سندهـ)

تر دې وروسته د دمشق له خلافت نه بېلابېل والیان د دې سیمې لپاره مقرر شول او هغوی ځینې ستر کارونه هم وکړل. په ۱۳۳هـ (۷۵۱ز) کې د عربي واکمنی د کتاب پاڼه واوښته او د امویانو په ځای عباسیان راغلل او د حکومت مرکز له دمشق نه بغداد ته وکوچېده. د بغداد سلطنت د معتصم بالله عباسي (مړ ۲۲۷هـ) تر زماني پورې مضبوط و. له هغه وروسته ورځ په ورځ داسې کمزوری شو، چې له سند او هندوستان سره یې اړیکې پرې شوې. د یو څه مودې لپاره د عربو واکمنان په دې سیمه کې خپلواک وو او بلاخره هندو راجاګانو ببرته ولکه وربانديې وکړه. او بیا یوازې دوه مشهور عربي دولتونه پاتې شول. یو یې د ملتان حکومت و او بل یې د سند په عربي ښار منصوره کې.

هندوستان ته چې کوم ترک او افغان مغل فاتحین راغلل، هغوی مسلمانان وو، د همدې لپاره د هغوی د ټولو کړنو مسؤلیت د اسلام په لمنه ورتپل کېږي. حال دا چې موږ ټول باید له دې حقیقت نه خبر اوسو، چې هغه ترک فاتحین چې هندوستان ته راغلل، په هغو کې له ځینو خاصو افسرانو او چارواکو پرته یاد قوم په مجموعي توګه د اسلام استازي نه وو. او نه د هغوی د سلطنت اصولو له اسلامي حکومتولی او واکمنی سره کومه اړیکه لرله. د هغوی ترک افسران زیاتره نوي مسلمان مریان وو، چې د اسلام د سولې او جنګ له قوانینو سره به یې شاید بلدتیا هم نه لرله.

د غزنویانو واکمني چې په کوم هېواد کې رامنځته شوه، هغه سیمه د اسلامي قلمرو تر ټولو وروستی ګوښه وه. په دې سیمه کې اسلام تر اوسه پورې پوره ریښې نه وې ټینګې کړې. د سلطان محمود په پوځ کې چې کوم سپاهیان ګمارل شوي وو، هغوی د غزنویانو، خلجیان، ترکانو او افغانانو بېلابېل قبایل وو او هندوانو هم برخه په کې لرله. د ترک قبایلو حال دا وو چې هغوی زیاتره مسلمانان نه وو. هغوی به د مریانو په حیث د زرګونو په شمېر کې خرڅېدل او پاچاهانو او امیرانو د ځان لپاره اخیستل، چې بیا به یې مسلمانان کړل او په پوځ کې به یې مقرر کړل، او یا به دا سپاهیان په خپل شوق له منځنۍ اسیا ووتل او اسلامي هېوادونو ته به یې رامخه کړه او ورو په ورو به یې په اسلامي لښکرو کې پرمختګ وکړ او لوی افسران به شول، تر دې چې پاچاهان به شول.

الپ تګین او سبکتګین چې د غزنویانو د سلطنت بنسټګران وو، همدا راز ترک غلامان وو، او د سلطان غوري ځایناستی ایلتمش او داسې نور هم همدا ډول مریان وو. سلجوقي ترکان چې څوکاله وروسته د ستریې سلجوقي امپراتورۍ بنسټ یې کېښوده، په همدې زمانه کې اسلامي هېوادونو ته راغلل او مسلمانان شول. همدا حال د سلطان محمود د پوځ هم و. د ترکستان او ماورالنهر ترکان په داوطلبانه توګه په دې پوځ کې شامل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول او زیاتره یې په همدې زمانه کې مسلمان شوي وو. ۱۸۸

مغل لاهم نه وو مسلمان شوي. هغوی تر اوومې هجرې پېړۍ پورې هم کافران ګڼل کېدل. تر علاؤالدین خلجي (مړ ۷۱٦هـ) پورې مغل مسلمانان په پوځ کې د نوکرانو په حیث ساتل کېدل.

د افغانانو لویو، لویو ښارونو ته خو اسلام رسېدلی و، خو پخپله افغانان تر دې دمه پورې نه وو مسلمانان شوي او کافر ګڼل کېدل. ګواکې د کابل پاچا د دریمې پېړۍ په پیل کې، یانې له غزنویانو نه سل کاله دمخه د خپل اسلام اعلان کړی و، خو د افغانانو زیاتره قبایلو د محمود غزنوي په زمانه کې اسلام ته مخه کړې وه.

په دې سربېره غوري قبایل د څلورمې پېړۍ تر منځنیو وختونو پورې یانې د غزنویانو له پیدایښت وروسته هم لا نه وو مسلمان شوي. بله دا چې له سلطان محمود نه دمخه تر دې دمه پورې په شاوخوا سیمو کې نه اسلامي مدرسې وې او نه اسلامي تعلیمات دود شوي وو او نه مسلمان علماء خواره شوي وو. په دې دلایلو د یادو قومونو د هغه وخت طور طریقو، د جنګ اصولو او تګلارو ته د اسلام نوم نه شو ورکولی.

خو د دې بالعکس هغه عرب فاتحین، چې په یوه پېړۍ کې یوه لور ته د شام له سرحدونو واوښتل او د مصر او شمالي افریقا له لارې اسپانیې ته رسېدلي وو او بل لور ته د عراق له لارې تر خراسانه پورې او په ایران او ترکستان باندې له تېرېدو وروسته یې په یوه خوا کې کاشغر او په

بله خوا کې تر سنده پورې سیمې فتحه کړې وې. دا هغه خلک وو، چې د اسلام لارښوونې په‌کې ژوندۍ وې، د اسلام جنګي قانون په عملي ډول په‌کې موجود و. په ځینو ځینو سیمو کې یې په افسرانو کې داسې لوی خلک هم وو، چې د اسلام د پیغمبر له صحبت نه برخمن وو. او داسې خو په ډېر لوی شمېر کې وو، چې د صحابوو فیض یې په برخه وو. د همدې لپاره د هغوی طور طریقې، د حکومت اصول او سلطنتي تګلاره د خیبر له لورې له راتلونکو قومونو سره بالکل جلا وه.

د لومړنۍ هجرې پېړۍ (اوومې میلادي پېړۍ) په پای کې د سند له فتحې څو کاله وروسته چې کله د بنو امیه دیندراه او د ګوتې غمی خلیفه عمر بن عبدالعزیز د سند خلکو ته د اسلام دعوتنامه واستوله، نو په ډېر لوی شمېر راجاګانو اسلام ته غاړه کېښوده. (فتوح البلدان بلاذری، فتح سندهـ ۲۲۸

د بېلابېلو تجارتي، معاشرتي او سیاسي اړیکو پایله دا شوه، چې په سند، ګجرات، کارومنډل، بلهار، مالدیپ، سراندیپ او جاوا کې اسلام ورو، ورو غځونې وکړې. په دې ټاپوګانو کې یوه لورې ته د هندوانو او بل لور ته د چینایانو په لاس بودیزم خپور شوی و. خو پېړۍ په پېړۍ د جغرافیې د کتابونو او سفرنامو مطالعه راته وایي، چې بې له جنګ او جګړې په پوره سوله او امنیت کې د اسلام اغېزې خپرې شوې.

د سند سیمه د مامون خلیفه (۲۱۸هـ) تر زمانې پورې د بغداد په مرکز پورې تړلې وه، بلکې د همده په اخره زمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې عربو امیرانو د خپلواکۍ خوبونه لیدل پیل کړل. نو ځکه د بني سامه یوه غلام فضل بن ماهان د سندان په نوم یو ښار فتح کړ او مخامخ یې له مامون خلیفه نه د دې سیمې د امارت سند ترلاسه کړ او په دې ځای کې یې جامع جومات جوړ کړ، چې د جمعې لمونځ به په‌کې کېده او د خلیفه په نوم به خطبه په کې لوستل کېدله.

تر ده وروسته یې ورور محمد بن فضل بن ماهان حاکم شو او دا د معتصم بالله (۲۲۷هـ) زمانه وه. نوموړي د اویا بېړیو له لښکر سره په سیدبون حمله وکړه. له دې غیابت نه یې ورور ماهان ګټه واخیسته او په واک یې قبضه وکړه او غالباً په همدې کورنیو جګړو کې د دې سیمې واک د مسلمانانو له ګوتو وښویېده. (بلاذری، ۴۴۶مخ)

د معتصم بالله په زمانه کې په قندابیل کې محمد بن خلیل د خپلواکۍ اعلان کړی و. خو د معتصم یوه چارواکي او د سند والي عمران برمکي د هغه ځای مشران ونیول او قصدار (قزدار) ته یې ولېږل.

د همدې عمران برمکي په زمانه کې د عربو په دوو مشهورو قبیلو یمني (قحطاني) او حجازي (نزاري) کې کټ مټ هماغسې کورنۍ جګړه پیل شوه، چې یو وخت یې د بنوامیه واکمنۍ ته د پای ټکی ایښی و. عمران د یمنیانو پلوي وکړه. په دې وخت کې د حجازیانو یو ډلګۍ‌مشر قریشي سردار عمر بن عبدالعزیز هباري و. هغه ته موقع په لاس ورغله او عمران یې وواژه. (بلاذری، ۴۴۶)

د عمر بن عبدالعزیز هباري له امارت وروسته هم عباسي تعلقات خراب نه شول. همدا وجه ده، چې د معتمد په زمانه کې (۲۷۹- ۲۵٦هـ) د بغداد په ملکي انتظاماتو کې د سند نوم هم ترسترګو کېږي. خو تر ده وروسته له بغداد سره د سند دا تش په نوم اړیکه هم پرې شوه. بلاذري چې په ۲۷۹هـ کې مړ دی، هغه لیکلي دي، چې «د بنو کنده یو ازاد غلام ابوالصمد چې د دریمې پېړۍ په ابتدا کې له عباسي والي عمر بن حفص بن هزارمرد سره سند ته تللی و، نن سبا د هغه زوی، صمد په زور د سند په ګدۍ باندې ناست دی.» (بلاذری، ۴۴۵)

خو مسعودي چې په ۳۰۳هـ کې هندوستان ته راغی، نو ویې لیدل، چې په دې سیمو کې داسې عرب امیران او واکمنان هم شته، چې تر اوسه پورې د بغداد د خلیفه خطبه لولي. ابن مؤقل په ۳٦۷هـ او مقدسي په ۳۷۵هـ کې چې دلته راغلل، هغوی هم همدا ولیدل، چې خطبه د خلیفه په نوم لوستل کېږي.

---

## د ژبـې مسئله

یو هندوستانی عالم یوه عربي هېواد ته لاړ. هلته یې یو عرب زلمی لیدو ته راغی. د خبرو په منځ کې ځوان ورنه پوښتنه وکړه: متی القدوم (یانې کله راغلئ؟) خو د ځواب په وخت کې د هندوستاني عالم له خولې وتلي چې: «**غداً**». په عربي کې سبا ورځې ته «**غد**» او پرون ورځې ته د «**امس**» کلمه کارېږي. نوموړی عالم د عربي ژبې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه عالم دی، خو دا چې د عربي ژبې په ویلو کې یې مشق نه و، نو له خولې یې «**غداً**» ووتل. حال دا چې د موقع له مخې یې باید **بالامس** (پرون) ویلي وای.

همداسې یوه بل هندوستاني عالم مقاله ولیکله او عنوان یې ورکړ: **الاقدار الاسلامیة**. په دې ځای کې ده اقدار کلمه د انګریزي کلمې د «ویلیوز» په معنا کې کارولې وه. په داسې حال کې چې په پاسنی معنا کې اقدار په اردو ژبه کې کارېږي. په عربي کې د «ویلیوز» لپاره قیمة (جمع یې قیم) راځي.

دا د تصادفي تېروتنې مثال دی، چې په کوشش او تمرین یې بنده چاره کولی شي. خو یو خارجی که په لغاتو او نحو کې هر څومره مهارت هم ترلاسه کړي، د هغې ژبې د اصلي ویونکو په څېر د لیک او وینا وړتیا نه شي پیدا کولی. **الا ماشاءالله**. مولانا شبلي نعماني د عربي ژبې لوی ادیب و. نوموړی مصر او شام ته په سفر ولاړ. هلته یې له خپل اوښبه سره په عربي ژبه خبرې کولې، نو د خبرو په منځ کې هغه ورته ویلي و چې: **یا شبلي انت نحوي** (اې شبلي! ته خو پوره نحوي یې.) مولانا شبلي فکر کړی و، چې اوښبه یې په عربي ژبه کې د مهارت ستاینه وکړه. خو وروسته پوه شو، چې دا په اصل کې طنز و. مولانا شبلي د نحو او صرف قواعدو ته په ډېره زیاته پابندي خبرې کولې. خو عرب اوښبه ته د مولانا خبرې مصنوعي غوندې ښکارېدلې.

هره ژبه خپل ځینې لطیف نزاکتونه لري. دا چې اصلي ویونکي له ماشومتوب نه په هماغه ماحول کې رالوییږي، نو ځکه په طبیعي ډول له هغو ادابو سره اشنا وي او په لیک او لوست کې یې په لاشعوري ډول هغه اداب مراعاتېږي. خو خارجي ویونکي عموما د دغو ادابو رعایت نه شي کولی. مخزومي پاچا، د سید جمال الدین افغاني ملګری و. هغه د نوموړي په هکله په عربي کې یو کتاب لیکلی و او نوم یې ورکړی و: **جمال الدین افغاني في البلاط السلطاني** (جمال الدین افغاني په شاهي مجلس کې) سید جمال الدین افغاني چې خبر شو، نو ویې ویل:



«**ان هذا العنوان لیس لهذا المقال بطبیق، خاطرات ولاتزد.**» یانې دا نوم له دې کتاب سره سر نه خوري. دې کتاب ته یوازې «**خاطرات**» نوم ورکړه او نور هېڅ هم ورسره زیاتوه.

مخزومي پاچا لیکلي دي، چې وروسته ما یوه عرب ادیب ته دا خبره یاده کړه، نو هغه وویل، چې که په کتاب دا نوم کېښودل شو، نو ژبپوهان به تنقید ورباندې وکړي. په دې چې تاسې د «**خاطرات جمال الدین**» کلمه د «**افکار جمال الدین**» په معنا اخلئ، خو اصلي ویونکي د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفهوم لپاره د «**خواطر**» کلمه کاروي. د لغت له پلوه خو دواړه کلمې مترادفې دي، خو د استعمال له پلوه په خاطرات کې د وسوسو مفهوم شاملېږي. جمال الدین افغاني د خپلې ازادې طبعې له مخې دا خبره ونه منله او مخزومي پاشا ته یې وویل، «**قل خاطرات ولا تبال بمن فسد لسانهم**» یانې ته کتاب ته همدا خاطرات نوم ورکړه او د هغو خلکو پروا مه کوه، چې خپله ژبه یې خرابه کړې ده.

د اصلي او خارجي ویونکو دا فرق دومره ناگزیر دی، چې په تاریخ کې یې ډېر په مشکل سره د دې په خلاف مثالونه پیدا کولی شو. مرزا غالب (۱۸۶۹- ۱۷۹۷) به په خپلې فارسي شاعرۍ ډېر زیات نازېده. غالب د خپل فارسي دیوان په اړه ویلي و:

**فارسی بین تا به بینی نقش های رنگ رنگ**
**بگذر از مجموعه اردو که بی رنگ من است**

مقام ته نه دی رسېدلی. مولانا شبلي نعماني (۱۹۱۴- ۱۸۵۷) چې لومړی ځل په اردو کې سیرة النعمان ولیکه، نو په پیل کې یې په فارسي ژبه یو عذر راووړ، په هغه کې یې ویلي و:

**گرچه مرا شیوه فن این نبود**
**حرف به اردو زدن ائین نبود**

خو هغه کتابونه چې شبلي یې شبلي کړ، هغه همدا اردو کتابونه وو، نه فارسي او عربي کتابونه. دغه راز مولانا حمید الدین فراهي (۱۹۳۰- ۱۸۶۳) د قرآن تفسیر خپله موضوع وگرځوله او په دې موضوع یې ډېرې گرانبیه لیکنې وکړې او دا ټولې لیکنې په عربي ژبه وې. خو د نوموړي عربي لیکنو نه په هند کې مقبولیت پیدا کړ او نه په عربي نړۍ کې. خو کله یې چې په اردو کې ترجمې خپرې شوې، نو هغه وخت یې خلکو اهمیت او ارزښت درک کړ.





خو غالب چې د شاعرۍ په دنیا کې کوم مقام ومونده، د اردو کلام په زور یې ومونده او د فارسي کلام په مټ دې

دا خبره یوازې تر اردو یا عربي ژبې پورې محدوده نه ده، بلکې په هره ژبه کې همدا حال دی. په هندوستان کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

انگریزي له رواجېدو وروسته بې شمېره خلکو انګریزي ژبه د خپل قلم ژبه وګرځوله. خو په ډېر مشکل سره د داسي خلکو نومونه په ګوته کېدی شي، چي د انګریزي په تاریخ کې دې یې کوم مقام ګټلی وي. د جواهرلال نهرو او مهاتما ګاندي او داسې نورو انګریزي لیکنې بې له شکه په اروپا او امریکا کې په لویه کچه ولوستل شوې. خو دوی چي کوم مقبولیت موندہ، هغه یې د تاریخي اهمیت په بنیاد موندہ، په دې چي د هندوستان په معاصر سیاسي تاریخ باندې د پوهېدو لپاره دې کتابونو د ماخذونو حیثیت خپل کړی و.



نراد چودهری چي په انګریزي او بنګالي دواړو ژبو کې ښه ادیب دی، هغه د ټاګور په اړه لیکلي دي چي په ۱۹۱۳ کې د نوبل جایزه ګټل د ده لپاره یوه حادثه وه. په دې چي له هغه وروسته ټاګور یوه شو، چي له اسیا نه ډېر اروپا د هغه د هنر قدردان دی. بیا یې انګریزي لیکلو ته مخه کړه. خو انګریزي بیا هم د هغه لپاره یوه خارجي ژبه وه او په دې ژبه کې یې هغسې عمق او کشش پیدا نه کړ، چي په خپله مورنۍ ژبه بنګالي کې یې درلوده.

ویل کېږي چي آربندوګوش په وروستي عمر کې بنګله ژبه زده کړه او د دې کار یوه انګېزه یې دا هم وه، چي ګیتانجلي په خپله اصلي ژبه بنګالي کې ولولي. دا یو واقعیت دی، چي یو ادیب یا لیکوال که په هر څو ژبو پوهېږي، خو په خپله مورنۍ ژبه کې چي په کوم لطافت او ښکلا سره خپل فکر او خیال وړاندې کولی شي، په بله ژبه کې یې تمه نه شي ورته کېدی. ځینې شاذ مثالونه به یې وي. خو «**الشاذ کالمعدوم**». شاذ خو لکه نشت داسې وي.

## د ماتې علت

**شریف کامل اخواني رهبر دی. هغه ویلي دي، چي د اخوان المسلمین د ناکامي یوه وجه دا وه، چي په سیاست کې یې له وخت دمخه پښه کېښودله؛ تدخلنا في السیاسة قبل وقتها.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رکوع او سجدې صحنه دومره راښکونکې وې چې هېڅ څوک يې له اغېز څخه نه شي وتلای

ما عيسويت پرېښوده او اسلام ته مې غاړه کېښوده. زه دا خبره منم، چې په مسيحيت کې هم حق او صداقت او ګټور اصول شته او که له دې مذهب نه ټول هغه بدعتونه ايسته شي، چې پادريانو په کې پيدا کړي دي، نو دا مذهب هم د انسان لپاره يو ګټور مذهب کېدلی شي. خو دې بدعتونو د عيسويت اصلي څېره ورخرابه کړې ده او بالکل يې روح ورځنې ايستلی دی. خو اسلام بيا په هغه ابتدايي بڼه کې پاتې دی، چې لومړی ځل په کې راڅرګند شوی و او دا چې زه د يوه داسې مذهب په لټون کې وم، چې له ټولو آميزشونو څخه پاک وي، نو د همدې لپاره مې اسلام قبول کړ. تاسې يوې عيسوي کليسا ته ورشئ،

نو هلته به له انځورونو او رسمونو او مجسمو پرته نور هېڅ هم ونه وينئ، له دې نه علاوه چې د پادريانو زرق و برق لباسونو ته وګورئ او د هغوی په طريقو، راهبانو او راهبه‌وو باندې نظر واوچوئ، نو له روحانيت سره يې تر لرې، لرې پورې هېڅ تعلق نه ترسترګو کېږي او داسې معلومېږي ته وا په کومه عبادت‌ګاه کې نه يو، بلکې په يوه داسې بتخانه کې يو، چې يوازې د بتانو د پرستش لپاره جوړه شوې ده. خو اوس جومات ته راشئ، په جومات کې به نه کومه مجسمه ووينئ او نه انځور. بيا د لمونځ کوونکو په صفونو باندې سترګې واچوئ، زرګونه لوی او واړه انسانان به اوږه په اوږه د يو بل په خوا کې ولاړ ووينئ. امام ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې وګورئ، نو لباس به يې ډېر ساده وي. حقيقت خو دا دی، چې په لمانځه کې د رکوع او سجدې صحنه دومره جذبوونکې ده، چې هېڅ انسان يې له اغېزه ځان نه شي خلاصولی.

د جومات ټوله فضا او ټول شيان انسان د روحانيت په خوا وربولي، نه د تصنع کومه خبره پکې شته او نه د تظاهر کوم سامان. خو د دې بالعکس د کليسا په هر شي کې د مادي دنيا انعکاس سترګکونه وهي. و دې شي، چې ځينې خلک ووايي، چې پروټستانټ مذهب خو هم له دې عيبونو نه پاک دی او له کليساوو نه يې بتان او انځورونه ويستلي دي، نو تا د اسلام په ځای پروټستانټ مذهب ولې غوره نه کړ. په دې کې شک نشته، چې پروټستانټ مذهب حقيقي عيسويت ته نيږدې دی. خو په دې اعتراف سربېره چې مسيح عليه السلام ډېر لوی پيغمبر و، زه هېڅ کله هم د هغه مبارک الوهيت ته قايل نه وم، په دې چې عيسی عليه السلام هم زما په څېر له غوښې او هډوکو نه پيدا شوی و. زما دا عقيده نوې نه ده، بلکې له ابتدا نه مې د همدې عقيدې اظهار کړی دی. اسلام نه يوازې د حضرت مسيح عليه السلام بشپړ درناوی رازده کوي، بلکې د دنيا د ټولو مذاهبو او د مذاهبو د بنسټګرانو احترام ته بلنه راکوي. زما له اورېدو مودې نه اسلام ته توجه وه، خو زما ايمان دومره قوي نه و، چې يو ناڅاپه د مسلمانۍ اعلان وکړم.

دا تذبذب د کوم انسان يا ټولنې د وېرې په اساس نه و، بلکې د دې وجه دا وه، چې زه په بشپړه معنا د اسلام له ښېګڼو او ځانګړنو سره نه وم اشنا شوی. ما د اسلام په هکله د اسلامي علماوو کتابونه مطالعه کول او ورو په ورو زما سترګې رڼېدې او په څرګنده توګه د دې پياوړي دين ښېګڼې او په بشر باندې د پيغمبر عليه السلام احسانونه راته روښانه شول او په پای کې مې د فطرت دغه دين خپل مذهب وګرځاوه. هغه توحيد پرستي چې ما په اسلام کې وموندله، په هېڅ مذهب کې نشته او د اسلام همدې توحيدپرستي تر ټولو ړومبی دې مذهب ته ور مايل کړم. په اسلام کې چې تر ټولو لويه ښېګڼه ما وليدله، هغه دا ده، چې اسلام مازې د روحاني پرمختګ پيغام نه لري، بلکې په دنيوي پيشرفت کې هم ډېر لوی مرستندوی او معاون دی.

**د امريکا نوي مسلمان شوي پروفيسور هيوټ د اسلام له منلو وروسته خپل تاثرات څپاره کړل، دلته مو هغه تاثرات رااخيستي دي. هغه وايي، چې د اسلام له مطالعې وروسته مې دا دين د خپل زړه اواز ومونده او دغه فطري دين ته مې غاړه کېښوده. همدا واقعه له بې شمېره نورو خلکو سره هم کېدی شي، خو په دې شرط چې د اسلام پيغام ور ورسول شي.**

اسلام انسان ته د ګوشه‌نشينې او راهبانه ژوند لاربښوونه نه کوي، بلکې د ژوند په دستګاه کې يې د پرمختګ لور ته هڅوي. يوازې په ديني چارو کې انسان ته رهنمايي نه کوي، بلکې د دنيا په هره معامله کې انسان ته لاره ښيي او ګام په ګام انسانيت ته ځلا ورښيي. اسلام دنيا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عاقبت کرونده او توښه ګڼلې ده او حق يې ورکړی دی، چې له ديني فرايضو نه دې هم نه غافله کېږي. حقيقت خو دا دی، چې په اوسني ساينسي عصر کې يوازې اسلام داسې مذهب دی، چې د پرمختللې دنيا ملګرتيا کولی شي.

د اسلام تر ټولو لويه ښېګنه دا ده، چې د تنګ‌نظرۍ او تعصب شديد مخالف دی. اسلام يوازې د خپل مذهب له پيروانو سره د مېرانې يا مينې لاربښوونه نه کوي، بلکې له ټول انسانيت سره، که د هر مذهب او ملت پورې تعلق ولري، د خواخوږۍ او مساواتو امر کوي. اسلام د تفريق نه، د انساني اتحاد قايل دی. واقعيت خو دا دی، چې دې مذهب انسان ته د انسانيت درس ور زده کړ.

زه له تېرو پنځو کلونو د اسلام پيرو يم. هغه څه چې زما ايمان ته يې تقويت ورکړی دی، هغه د اسلام لوړ او سپېڅلي اصول دي، د دې مذهب نړيواله ورورۍ ده، د دې مذهب بې مثاله مساوات دی او هغه علم او عرفان دی، چې زما په زړه او ذهن کې يې نوې رڼا بله کړه.

اسلام يو داسې مذهب دی، چې سراسر علم او عمل دی، بلکې زه خو وايم، چې اسلام يو مثبت دين دی. که يو انسان غواړي چې په سمه معنا کې عيسوی شي، نو بايد له دنيا نه لاس پورته کړي او د ځان لپاره منزوي ژوند غوره کړي. خو په اسلام کې تاسو د دنيا له ټولو خوښيو او نعمتونو ګټه اخيستی شئ. نه موږ د عبادت لپاره ګوښه‌والي ته اړتيا لرو او نه په کنډوالو کې د ژوند کولو مجبوري راله غاړې کېږي. که انسان دنيا ته د همدې لپاره استول شوی وي، چې په انزوا کې خپل ژوند تباه کړي، نو بيا دا خبره ګونګه پاتې کېږي، چې د انساني ژوند مقصد څه دی. دا يوازې اسلام ويلي دي، چې انسان د ژوند د دستګاه دننه د طبيعت له هر شي نه ګټه اخيستی شي، خو ورسره دې خپل خالق او د هغه مخلوق هم نه هېروي. ما چې له کله نه اسلام منلی دی، په زړه کې ډېر زيات سکون محسوسوم. اوس زما دنيا هم سمه شوې او عاقبت هم.

## عجيب، عجيب مسايل!

که په جومات کې يو کس ونرنجېږي او يو بل کس په لمانځه ولاړ وي او له خولې يې **يرحمک الله** (خدای دې درباندې رحم وکړي) ووځي، نو لمونځ يې فاسدېږي. البته که **يرحمه الله** (خدای دې په هغه رحم وکړي) ووايي، نو لمونځ يې نه فاسدېږي. دا د شافعيانو مسلک دی.

د حنفيانو په نزد مسئله داسې ده، چې که په جومات کې يو کس ونرنجېږي او په لمانځه ولاړ کس **يرحمک الله** يا **يرحمه الله** ووايي، نو په دواړو حالتونو کې يې لمونځ فاسدېږي. خو که پخپله په لمانځه ولاړ کس ونرنجېږي او خپل ځان مخاطب کړي ياني **يرحمني الله** (خدای دې په ما رحم وکړي) يا **يرحمک الله** ووايي، نو لمونځ يې نه فاسدېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرانسوي مفکر اینډري مالرو ویلي دي، چې د اروپا عروج په ۱۴۵۰ز کال کې پیل شو. دا زمانه تر پنځه سوه کاله پورې وغځېده. څو په ۱۹۴۹ز کې چې ماؤ واک ته ورسېده، نو دا د دې دور د پای اعلان و. غربي تمدن چې په څه ډول له رومي تمدن نه وزېږېده، په همدې ډول اوس غربي تمدن هم ځپل ځای یوه بل تمدن ته د خالي کولو په حال کې دی. (ټائم، ۸ اپریل، ۱۹۷۴)

په نیږدې راتلونکې کې د غربي تمدن نړېدل یقیني دي. له هغه وروسته به دنیا له یوې فکري تشې سره مخ شي، چې د هغې د ډکولو لپاره اوسمهال هېڅ قوم نشته. چین او روس په ظاهره د معاصر دور د ځواکمنو دېپانو غونډې راهسک شوي دي، څو هغوی دا خلا نه شي ډکولی. د دې وجه د هغوی دروني تضاد دی. اشتراکي دیکتاتوري چې کومو هېوادونو ته فرصت ورکړی دی، چې ځپل وسایل په خاصو ډګرونو کې په کار واچوي او په یوه طاقتور قوم بدل شي، همدې دیکتاتوري په یادو هېوادونو کې د فکري ارتقا مخه هم ډپ کړې ده. د ټولواکي غوښتونکي نظام په سیوري کې تخنیکي علوم وده کولی شي، څو فکري علوم، چې قومونو ته د امامت مقام ورېښي، د هغو لپاره ازاده فضا حتمي ده، چې په اشتراکي نظام کې نه موندل کېږي.

تر دوی وروسته جاپان دی. جاپان بې له شکه د صنعتي پرمختګ په میدان کې د معجزې تر حده لاسته راوړنې لري، څو جاپان له بنیادي پلوه یوه تخنیکي ټولنه ده او په بعیده اینده کې یې هم دا تمه نشته، چې جاپان دې له فکري پلوه کوم مقام ترلاسه کړي.

د قومونو زوال، د صنعتي تمدن له نتایجو نه مایوسي او عمومي فکري خلا د ربښتوني دین علمبرداران نن ورځ په هغه مقام کې درولي دي، چې که راپیداره شي، نو اسلام یو ځل بیا د انسانیت د رهبري او امامت مقام ته هسکولی شي.

د دې لوړ مقصد لپاره د هلو ځلو پر وړاندې چې یوازنی شی څنډ ګرځېدلی شوی، هغه په معاصر صنعتي دور کې د وسایلو له پلوه د مسلمانانو وروسته والی دی. څو قدرت چې د تېلو د زېرمو دریمه برخه د هغوی تر ځمکو لاندې وېښوله، نو په ډېر حیرانوونکي ډول یې د دوی دغه پسماندګي هم جبران کړه. نن ورځ اسلامي دنیا هره هغه اقتصادي پیه پرې کولی شي، چې په معاصر دور کې د اسلامي احیاء د اغېزناکو هلو ځلو لپاره پکار ده. خدای د ځپلې برخې کار کړی دی، اوس به دا ګورو، چې د هغه بندګان د ځپلې برخې کار کوي یا نه.

(له «**الاسلام**» **کتاب نه ماخوذ، صحه** ۲۳۵-۳۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ماشومانو کورنۍ چې څومره ژر جوړېږي، هماغومره ژر نړېږي هم!

د یوه شاګرد سرپرست د لیسې مدیر ته وویل، «ستاسې تعلیمي نصاب ډېر اوږد دی، ډېر زیات کتابونه لري. د زده کوونکي د ژوند لویه برخه د همدې کتابونو په لوست کې تېره شي.»

مدیر ځواب ورکړ «د دې ستونزې حل لاره خو ډېره اسانه ده. تاسې لنډ نصاب هم جوړولی شئ. په اصل کې وخت په دې پورې تعلق لري، چې تاسې په شاګرد کې د کومې درجې استعداد غواړئ. د فطرت کارخونه د څېرې یوه ونه په سلو کلونو کې تیاروي، خو د ختکي د بوټي لپاره یوازې څو میاشتې وخت غواړي. که تاسې معمولي غوندې علمي معیار غواړئ، نو د څو کلونو تعلیم به یې هم کافي وي. خو د اعلی تعلیم‌یافته نسل د روزلو لپاره به په هر حال کې ډېر وخت لګوئ.»

همدا خبره د ملي رغونې په اړه هم صدق کوي. که تاسې پایداره او اوږدمهاله رغونه غواړئ، نو د هغه لپاره به د صابرانه انتظار له پړاوه تېرېږئ او اوږده موده به پرلپسې هلې ځلې کوئ. خو که تاسې د کمکیانو د خاورو کورګې غواړئ، نو بیا په یوه ورځ کې هم د دا ډول کور ستنې درولی شئ. البته په دې حالت کې به دې پېښې ته هم چمتووالی نیسئ، چې په څومره وخت کې مو چې خپل کورګی له خاورو راهسک کړی دی، له هغه نه به هم په کمه موده کې بېرته د خاورو مېلمه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

باد چې وچلېږي، نو ګردونه ورسره پورته کېږي. خو د ګردونو وروستی انجام دا ټاکلی دی، چې بېرته په ځمکه وغورځي او د پښو لاندې رېږېدو ته پاتې شي.

خو همدا بادونه د اوبو څاڅکي هم الوت ته اماده کوي. خو دلته خبره بالکل جلا وي. څاڅکي چې فضا ته ورسېږي، نو په ورېځو بدلېږي او بېرته د باران په ډول په ځمکه ورېږي. بیا په ویالو او لښتیو کې بهېږي او سمندر ته ځان رسوي او بلاخره د هغه ستري آبي پروني برخه ګرځي، چې د ځمکې په ټوله کره باندې په دایمي ډول غوړېدلی دی.

همدغه خبره زموږ د فعالیتونو په اړه هم ده. سطحي او بې پوهې فعالیتونه یوازې انسانان کندې ته غورځوي، خو هغه کارونه چې بنیاد یې په ژور بصیرت ولاړ وي، هماغه انسان د پرمختګ هسکو ته رسوي. په تېره یوه نیمه پېړۍ کې موږ په دې هېواد کې د ملي رغونې په نوم زبردستي غوغاوې وکړې، خو د دې ټولو هڅو انجام دا و، چې نن ورځ موږ یوازې د لارې د ګردونو په څېر د انساني قافلو په پښو کې رېږېدو ته پراته یو. حال دا چې موږ د هلو ځلو لپاره اوږدمهاله فرصت ومونده او په دې فرصتونو کې طلایي امکانات هم نغښتي وو، که موږ له خپل عقل او پوهې نه کار اخیستی وای، نو نن ورځ به موږ په دنیا باندې ځلېدلی. د ویر او ماتم په ځای به د پرېکړو کولو په دریځ کې وای. زموږ لپاره آسماني الوت ټاکلی و، خو د خپلې بې بصیرتي له لاسه تش په ځمکه باندې د رېږېدو انجام په برخه راغی.

## تر ټولو لوی اعتماد په خدای باندې اعتماد دی

هغه زړورنیا چې تکیه یې په مادي اسره باندې وي، په هغه وخت کې په بزدلي بدله شي، چې کله هغه مادي اسره له لاسونو وښوییږي

په دوهمه نړیواله جګړه کې چې متحدو قوتونو بلاخره جرمني ته ماتې ورکړه، نو ټول نازي رهبران یې په هماغه برلین کې په دار راوځړول، چېرته یې چې د ټولې دنیا د وژلو پلانونه جوړ کړي وو.

دا واقعه د اکتوبر ۱۹۴۶ز کال ده. هټلر او ګویرنګ خو ترمخ لا ځانونه وژلي وو، وریپسې بن ټراپ، کیټل، کینټن برنر، الفرېډ روزن برګ، هنس فرینک، ولهم فرک جولیس، ساکل، جوډل سس انکوارټ او نور نازي مشران چې ژوندي پاتې وو، یو په یو له منځه یووړل شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هغه رهبران وو، چې څلور سوه زره یهودیان یې د مرګ کندې ته غورځولي وو او د هغوی په شتمنیو یې قبضه کړې وه. هغه رهبران وو، چې یوه داسې وینلړلې جګړه یې رابود کړله چې په خپل مفروضه دښمن سربېره پخپله د جرمني قوم دوه سوه زره عسکرو هم سرونه له لاسه ورکړل. زرګونه انسانان یې په توقیفي کمپونو کې له حیواناتو نه بتر ژوند ته مجبور کړل. د دوی د حیوانیت حال دا و، چې د خپل هېواد سپین ږیري، معذور او ناروغ وګړي یې هم د «جرمني لپاره بې ګټې» په نوم په مرمیو وویشتل. د مړو ماشومانو له جسدونو کندې ډکې وې او د کونډو او یتیمانو شمېر له شمېره وتلی و، خو د دې هر څه په لیدو د دوی ډېره زړونو هېڅ نرمي ونه پېژندله.

خو له ماتې وروسته یې حال دا و، چې کله د اعدام تختې ته ودرول شوو، نو څېرې یې ژېړې تښتېدلې وې، پښې یې لړزې اخیستې وې، غوښتل یې چې څه ووایي، خو ژبو یې ملګرتیا نه کوله. د اتشینو وېناوو رهبرانو د خپلې ګویایي حس له لاسه ورکړی و. هغه چې د نورو له ژوند سره به یې لوبې کولې، د خپل انجام په لیدو لېوني شوي وو.

**هغه زړورتیا چې تکیه یې مازې په مادي اسره باندې وي، هغه وخت په بزدلي باندې بدله شي، چې کله هغه مادي اسره له لاسونو وښوییږي.** البته د چا اعتماد چې په لازوال خدای وي، هغه په هر حال کې د مېړانې او سربښندنې د غره غوندې ولاړ وي، پروا نه کوي، چې مادي اسره یې ملګرې ده او یا یې ملګرتیا پرې اېښې ده.

مسلمانان د هغه نبي امت دي، چې په غارِ ثور کې یې په هغه شېبه کې د «**لاتحزن ان الله معنا**» درس ورکړی، چې ټولې مادي تکیې یې له لاسونو وتلې وې او زورور دښمن د وژلو له بشپړ چمتووالي سره د سمڅې په خوله کې ولاړ و.

**که د الهي مرستې دغه ډول یقین په زړونو کې ژوندی شي، نو هېڅکله مو مایوسي مخې ته نه شي درېدی او د قاتلانو او تباهکارانو له هجوم نه هم په داسې شان په امان وتلای شئ لکه شاوخوا کې مو چې هېڅ څوک هم نه وي.**

---

## دا علوم څنګه جوړ شول؟

اسلام چې له عربي ټاپو نه شاوخوا سیمو ته وغزېده، نو ورسره نوي مسایل هم راپیدا شول. عجمي دنیا له هر لوري په اسلام باندې «یرغلونه» پیل کړل. په دې وخت کې د قرآن کریم د ژبې د خوندیتوب لپاره نحو، د قرآن د مشکلاتو د حل لپاره تفسیر او له قرآن نه د احکامو د استنباط لپاره فقه تدوین شوه. د حدیثو د تلف کېدو او له موضوع احادیثو سره د ګډېدو له وېرې احادیث هم راټول شول او د حدیثو اړوند فنون یې وضع کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام له خپرېدو سره عربي ژبې هم وزرې کړې وې. اوس عربي د حجاز او نجد له کلیو نه د بصرې، کوفې، دمشق، بغداد، قرطبې او مصر په څېر د متمدنو سیمو ژبه گرځېدلې وه. ښکاره ده چې نورو قومونو په عربي ژبه هغه تسلط نه درلوده، چې عربو درلوده. د اختلاط په پایله کې یوه نوې ژبه د جوړېدو په حال کې وه، چې له نیمگړتیاوو او تېروتنو ډکه وه. د څلورمې هجري پېړۍ تر پایه پورې د عربو کلیوالو ژبه په خپل خالص حالت کې پاتې وه، خو د ښارونو ژبه بدله شوې وه. وروسته دا بدلون او خرابی نور هم عام شو. مسلمانان په اندېښنه کې شول، چې داسې نه وي، چې د قرآن ژبه هم له دې نوې عربي نه متاثره شي. دوی د اصیلې ژبې د حفاظت لپاره د نحو او صرف قواعد رامنځته کړل. د قرآني متن په عبارتونو یې اعراب او ټکي ولگول. د دې گټه خو دا شوه، چې کتابي ژبه خوندي شوه. خو محاوره یا گړنی ژبه ورسره اصلاح نه شوه.

بلاخره عربي ژبه دوه برخې شوه. یوه د لیک ادبي ژبه، بله د خبرو اترو ولسي ژبه. دا وېش تر نن ورځې پورې په عربي هېوادونو کې راروان دی.

د عربي نحوې د قواعدو لومړنی ترتیب کوونکی ابوالاسود دولي (مړ ٦٩هـ) دی. ویل کېږي، چې په ابتدا کې چې کله ده د کوفې او بصرې له والي زیاد نه د دې فن د تدوینولو اجازه وغوښته، نو هغه اجازه ور نه کړه. وروسته دا واقعه وشوه، چې یو سړی زیاد ته راغی او د خبرو په منځ کې یې وویل: توفی ابانا وترک بنون (سمه جمله داسې وه: توفی ابونا وترک بنین) اوس زیاد هم ستونزه درک کړه او ابوالاسود ته یې د صرف او نحوې د قواعدو د تدوین اجازه ورکړه. د ابوالاسود سریاني ژبه زده وه او د سریاني ژبې نحو له عربي نه دمخه مرتب شوې وه او د همدې په تقلید کې ابوالاسود د عربي نحوه هم د سریاني نحوې په قواعدو تدوین کړه.

## زندان ورته رحمت شو

**ابو ریحان ابن احمد البیروني په خوارزم (اوسني خېوا) کې نړۍ ته راغی. البیروني د نوابانو په دربار پورې تعلق درلوده. په ۱۰۱۷ کې چې کله محمود غزنوي په خوارزم کې واکمن نسل له منځه یووړ، نو البیروني یې هم ونیوه او په غزني کې یې استوگنې ته مجبور کړ. دا بند د البیروني لپاره ډېره زیاته گټه وکړه. په غزني کې په دې زمانه کې د سنسکرت علماء اوسېدل. ده له هغوی نه د سنسکرت زدکړه شروع کړه او د سنسکرت کلاسیکي اثار یې ولوستل. او همدا هڅې یې وروسته د ده په مشهور کتاب «تحقیق الهند» کې راښکاره شوې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په دې کې ستاسې لپاره پند دی

د اسلام د ابتدايي دور په شاعرانو کې درې شاعران ډېر زيات مشهور دي: جرير، فرزدق او اخطل. جرير (مړ ۱۱۰هـ) او فرزدق (مړ ۱۱۰هـ) دواړو به د يو بل ډېره زياته هجوه ويله. مثلاً فرزدق وويل:

احلامنا تزن الجبال رزانة
و تخالنا جنّا اذا ما نجهل

**ژباړه: زموږ عقلونه د غرونو په اندازه درانده دي، خو که مو وراني او ناپوهي ته لاس کړ، نو بيا به د پېريانو ګمان راته کوئ.**

جرير ځواب ورکړ:

ابلغ بنی و قبان ان حلومهم
خفّت فلايزنون حبة خردل

**ژباړه: بني‌وقبان ته ووايه، چې د دوی عقلونه سپک شول او د اوري د دانې په اندازه وزن هم نه لري.**

دا يې ډېر ساده غوندې مثال دی. هسې خو د دوی هجوې په تېره د فرزدق هجوې، دومره لوڅې دي، چې ان انسان يې رانقل کولی هم نه شي.

د جرير په هکله دا کيسه مشهوره ده، چې مور يې د زېږېدو په ورځو کې خوب ليدلی و، چې د دې له وجود نه يو پړی راووت او په خلکو باندې يې ټوپونه او ځېزونه وهل او د هر يوه غاړه يې زندی‌کوله. مور يې چې کله د خپل خوب په تعبير پسې پوښتنه وکړه، نو معبر ورته وويل، چې له تا نه به يو زوی پيدا شي، چې د خلکو هجوې به وايي او د هغوی لپاره به يو لوی افت وي. نو ځکه په دې هلک جرير نوم کېښودل شو. جرير په عربي ژبه کې پړي ته وايي.

د دوو هم‌مهاله شاعرانو ترمنځ هجوه څنګه شروع شوه. د دې قصه داسې ده، چې جرير بن عطيه په يمامه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ ته راغی. د خپل طبیعت د میلان او د ماحول په تاثیر کې یې شعر او شاعرۍ ته مخه کړه. بیا خبر شو، چې په بصره کې د شاعرانو ډېر قدر دی، نو بصرې ته یې ځان ورساوه. هلته یې ولیدل، چې فرزدق د خپلې شاعرۍ په متو ډېر لوړ مقام ته رسېدلی دی. د فرزدق خوشحالي او د هغه دبدبې دی ډېر حیرانه کړ. سره له دې چې دواړه تمیمي وو. خو د جریر په زړه کې په پټه د حسد لمبې بلې شوې. د مربد بازار د جریر او فرزدق د ویاړمنو قصیدو او هجویه نظمونو په میدان بدل شو. دواړو به د یو بل په بحر کې قصیدې لیکلې چې د «نقائض» په نوم مشهورې شوې. خو کله چې د دواړو د عمر وروستی ورځې شوې، نو دواړو له دې مبارزو او دعوو مخ واړاوه او په عبادت کې مشغول شوو.

انسان چې کله یو کار ته لاس واچوي، نو انګېزه یې چې هر څه وي، خو دغه بوختیا یې ورو په ورو د طبیعت په یوه برخه بدله شي او ټول اقوال او افعال یې په هماغه قالب کې پرېوځي. او جریر یې یو ښه مثال دی.

جریر یو ځل د خلیفه ولید بن عبدالملک دربار ته ورغی. هلته عدي بن رقاع عاملي هم ناست و. خلیفه له جریر نه وپوښتل: «دی پېژنې؟» جریر وویل «اې امیر المؤمنینه! نه» خلیفه وویل، چې دا د عامله کورنی سړی دی. د دې خبرې په اورېدو د جریر له خولې برجسته ووتل، «د هماغه عامله، چې الله تعالی یې په اړه فرمایي:

عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ، تَصْلَى نَارًا حَامِيَةً

**ژباړه: سخت زیار اېستونکي ستومانه به وي، سره اور ته به ورننوځي. (غاشیه: ۳-۴)**

بیا یې یو بېهوده غوندې شعر وویلې. د دې پایله دا شوه، چې د جریر او عدي په منځ کې دښمني پیل شوه او دواړو د یو بل په خلاف هجویه نظمونو ویلو ته مخه کړه.

---

## متفرقات

## حقایق غالبه شول

د پاکستان رهبران په دې فکر کې وو، چې د هندوستان د نیمې وچې په لویدیځ کې چې کله دوی خپل اسلامي حکومت جوړ کړي، نو ټوله غربي اسیا، خلیج فارس او د سره سمندرګي شاوخوا پراته ټول اسلامي هېوادونه به، چې له مذهبي اړخه د دوی غوندې مسلمانان دي، له دوی سره لاس یو کړي او سره له دې چې دوی د باقي هندوستان په پرتله کوچنی هېواد دی، خو د خپلو «ورونو هېوادونو» په ملتیا به ډېر لوی حیثیت ته ورسېږي.

د ولسمشر ایوب د واک په زمانه (۱۹۶۹ -۱۹۵۸) کې یې دا هیله تر یو څه بریده پوره هم شوه. خو ډېر ژر په دې هیلو باندې د ژوند حقایق برلاسي شول. د غربي اسیا په اسلامي هېوادونو کې د پترولو خزانې راوخوټېدې. هغوی اړتیا لرله، چې د خپلو شتمنیو په مټ به په خپلو هېوادونو کې د پېشرفت او پرمختګ طرحې په لاره واچوي. هغوی سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسې بې خرته وې، خو د تخنیکي او فني پوهې کمی و. همدا وروستی شی پاکستان دې هېوادونو ته نه شوی ورکولی. بل لوري ته هندوستان د تېرو سلو کلونو په پایله کې ځان د دې جوګه کړی و، چې د اسلامي هېوادونو دا اړتیا ورپوره کړي. همدا ده چې نن ورځ په اسلامي هېوادونو کې د هندوستان د کارپوهانو ډېر تود هرکلی کېږي او پاکستان شاته تمبېدلی دی.

## د ورځپاڼو پاچا

یونسکو د ۲۰۰ هېوادونو د عامه رسنیو په اړه یوه سروې خپره کړه. د سروې مطابق، په اوسنی زمانه کې د نشر او پخش وسایلو دومره پېشرفت کړی، چې د مصنوعي سپوږمکیو مخابراتي دور ته رسېدلي دي. خو په عمل کې وضعیت دا دی، چې له تخنیکي پلوه یو څو ترقيیافته هېوادونه دي، چې نورو ټولو هېوادونو ته د خبرونو د ترلاسه کولو سرچینه دي. په سروې کې ویل شوي دي، چې په ۹۰ هېوادونو کې ملي خبري رسنی شته، خو دغه هېوادونه هم نورو هېوادونو ته د خپلو ملکي خبرونو د رسولو لپاره پنځو نړیوالو رسنیو ته محتاج دي. دغه پنځه نړیوالې رسنی چې د یوه هېواد کوم خبرونه چې نورو هېوادونو ته رسوي، هغه په عامه توګه د هغه قوم ناوړه اړخونه او فرعي ځانګړنې وي. په دې معنا چې همدا پنځه خبري رسنی په ټوله رسنیزه دنیا پاچاهي کوي.

## انسان او کیشپ

په هند کې لومړنی باغ وحش په ۱۸۷۵ کې، کلکته ته نیږدې په علیپور کې جوړ شو. دا بن لویې شیویندلر جوړ کړی و. په ۱۸۷۵ کې په دې سیمه کې یو کیشپ و، چې هغه وخت یې عمر پنځوس کاله و. دغه کیشپ اوس هم په علي پور ژوبڼ کې ژوندی او عمر یې ۱۵۰ کالو ته رسېدلی دی. د ورځپاڼې په یوه انځور کې لیدل کېږي، یو ماشوم د کیشپ په ملا باندې ناست دی. انسان د کیشپ غوندې ۱۵۰ کاله ژوندی نه شي پاتې کېدی. خو د انسان بچی د کیشپ په ملا سپرېدی شي.

## استرالیا

د استرالیا توریوستي اوسېدونکي شاوخوا پنځه ویشت زره کاله دې لویې وچې ته راغلي وو. بشرپوهان په دې اند دي، چې دا خلک پیاده دې سیمې ته رارسېدلي وو او په دې وخت کې استرالیا، نیوګیني او اسیا سره نښتي وو. خو وروسته استرالیا ورنه پرې شو او له وخت سره لرې شوه. دا لرغوني اوسېدونکي اوس هم د ۱۴۰ زره په شمېر کې اوسي. یانې د ټول نفوس یو سلنه برخه. د استرالیا مساحت د هند په پرتله دوه چند ډېر دی. خو نفوس یې د بمبۍ او کلکتې له مجموعي نفوس نه هم کم دی. په ۱۷۸۸ کې چې کله بریتانیا ځینې مجرمان د سزا په توګه د اوسنی سیډني سیمې ته راوشړل، نو هغه وخت له دوی سره د خوراک څښاک هېڅ څه هم نه ول. له مایوسي او پرېشاني نه د خلکو لاسونه د یو بل ګرېوانه ته ورسېدل او د یو بل سرونه یې وشیندل. خو نن ورځ استرالیا په بشپړه توګه په ځان بسیا لویه وچه ده. هر کال د ۴۰۰ کروړه روپو غنم صادروي او په ټوله دنیا کې د پنبې د تولید څلورمه برخه په استرالیا کې تولیدېږي. له طبیعي منظرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پورمامور د دې ځای د اوسېدونکو د ژوند معیار د نړۍ له ځو پرمختللو هېوادونو ځخه شمېرل کېږي.

## یوه انساني کمزوري

لارډ ریت (۱۹۷۱- ۱۸۹۰) ته د بي بي سي لندن «پلار» ویل کېږي. نوموړی د ډېر حیرانوووونکي شخصیت سړی و. او د بریتانیا په ولس کې یې ډېر غیرمعمولي مقبولیت پیدا کړی و.

د ده خپله شخصي ډایري (The Reith Diaries) په ۵۲۵ صفحو کې خپره شوې ده. د حیرانتیا خبره ده، چې په خپله ډایرۍ کې دی د هټلر (۱۹۴۵- ۱۸۸۹) لپاره د ډېرو اغېزناکو او مؤثرو لاسته راوړنو خبره کوي. خو د خپل هېواد د مشر ونستن چرچل (۱۸۷۴- ) لپاره بیا د خاین او احمق الفاظ ورسره دي.

د دې فرق علت پخپله د ده په اعتراف کې موږ پیدا کولی شو. دی وايي، چې زه ډېر زیات ځانخوښی انسان یم. ډېر کم به داسې کېږي، چې په یو بل چا کې دې د لویې اعتراف وکړم.

لارډ چرچل د بریتانیا لومړی وزیر شو. دا هغه مقام دی، چې لارډ ریت خپل ځان ډېر مناسب ورته لیده. نو ځنګه چې د چرچل خبره راشي، په ده کې مخالفانه احساسات راپیدا شي، حال دا چې هټلر د ده لپاره یو بې موړده سړی و، نو د هټلر نوم په ده کې مخالفانه احساسات نه پیدا کول. دا و هغه ساده غوندې علت د پاسنې فرق.

## زه فکر کوم

راجه راؤ د میسور برهمن دی او د هند مشهور فلسفي دی. نوموړي په هند کې خپلې زدکړې بشپړې کړې او د نورو زدکړې لپاره یې په ۱۹۲۹ کې پاریس ته مخه کړه. او په ۱۹۵۰ کې یې لومړی ځل امریکا ته سفر وکړ. په ۱۹۷۳ کې د امریکا ټکزاس پوهنتون ته د فلسفې د مېلمه پروفیسور په توګه وغوښتل شو. په دې موده کې یوې امریکايي لیکوالې الزبت ووهل له ده سره یوه مفصله مرکه وکړه. الزبت ووهل دوه ځلې هندوستان ته راغلې ده. د دې مرکې یوه جمله دا ده:

«راؤ د خپل ژوند په سپما کې ډېر زیات تکړه دی. دی بې له دې چې خجالتي ورته ودرېږي، له یو چا سره یوازې په دې خبره هم له لیدو انکار کولی شي، چې **زه فکر کوم**.»

په دې خبره کې به موږ یوازې دومره ور زیات کړو، چې د دې خبرې لپاره هم د امریکا خاوره پکار ده. که [افغانستان] کې کوم څوک دا خبره وکړي، نو یا به د لېونې ټاپه پرې وهي یا د مغرور.

---

**د کامیابي راز دا دی، چې انسان د خپلې ناکامي په راز پوه شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلامي دور علمي او تصنيفي کار

د اسلامي دور علماوو به اکثريت د خارجي علماوو په تفسيرونو کې سپړې لټولې او د هغوی همسويه تفسيرونه يې ونه شوی ليکلی او هغه چې ويې ليکل، هغه هم ټول په عربي ژبه کې وو، نو له دې امله تنها تر خواصو پورې محدود پاتې شوو. په دې خبره سړی ته افسوس ودرېږي، چې د مسلمانانو خپله ژبه خو فارسي وه، خو په دې ژبه کې هم د قرآن کريم ترجمه د مسلمانانو د واکمنی له رامنځته کېدو شاوخوا پنځه نيم سوه کاله وروسته شاه ولي اللّه لومړی ځل وکړه، او کله چې هغه دغه بې‌بها نعمت عام کړ، نو کم‌سواده علماوو د شاه صاحب په خلاف هم غوغاوې او چيغې راواخيستې.

د هندوستان په علماوو باندې د فقهې موضوع ډېره ګرانه وه او هغه علماء چې له بهره دلته راغلي وو، هغوی هم د مفسر او محدث کېدو په ځای زياتره فقهاء پاتې شوو. په دې ډول هغوی ډېر په اسانی سره د واکمنو او اميرانو قربت ته رسېدی شوی، په دې چې هغوی به په مسايلو کې همدې علماوو ته رجوع کوله، او د دې پايله دا شوه، چې په هندوستان کې اسلام زياتره د فقهاوو له خولې واورېدل شو، چې عموماً د خپلې سختې او زشتې لپاره ډېر زيات شهرت لري. همدا وجه ده، چې ځينې خلک په دې فکر دي، چې که په هندوستان کې اسلام د مفسرينو او محدثينو له خولې خپور شوی وای، نو ډېر اغېزناک به و. خو د فقهې له دې مقبوليت سره، سره هم اهل‌قلم فقهاوو اکثريت د فقهې په اړه د خارجي کتابونو حاشيې او لمنليکونه ليکل. تاتارخاني فتاوا او فتاوای عالمګيري د هندوستان ډېرې سترې فقهي لاسته راوړنې دي، د دې دواړو تدوين د يوه امير او يوه پادشاه په امر شوی دی.

په هندوستان کې په هر ډول سرپرستي سربېره يو امام غزالي، يا ابن قيم، يا ابن مسکويه، يا ابن خلدون پيدا نه شو، حال دا چې د پادشاهانو په اړخ کې خو خبره دا ده، چې په هند کې لوی شمېر پادشاهان داسې تېر شوي دي، چې د دنيا د لويو، لويو امپراتورانو په کتار کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

درولی شو. د مغل پادشاهانو واکمني د خپل عروج په زمانه کې د دنیا تر ټولو ځواکمنه او متمدنه واکمني پېژندل کېدله. که د هندوستان علماء هم د همدې درجې او د اسلامي هېوادونو له علماوو سره په تله کې برابر وای، نو د هندوستان د مسلمانانو دیني، ذهني، نظري او فکري نشو و نما به په یوه بل معیار کې وای. هغه وخت چې اروپایي څېړونکو په هر ډول علومو او فنونو کتابونه لیکل او د نوي ژوندطرز او نویو لرلیدونو لپاره یې د خپلو قومونو واکې ټینګولې، په همدې وخت کې د هندوستان علماوو یوازې داسې کتابونه لیکل، چې عامو مسلمانانو ته یې ډېر فیض نه رسېده، او بیا عجیبه خبره دا وه، چې مذهبي ژبه عربي وه، د سلاطینو او امراوو ژبه ترکي یا فارسي وه. او عام ولس په تېره هندي الاصله مسلمانان د دې ځای له اوسېدونکو سره د راشې درشې له امله له یوې نوې ژبې سره عادي شوي وو. ملایانو په عربي یا فارسي ژبه لیک او لیکوالي کوله او ژبه به یې هم دومره مغلقه وه، چې څه به یې چې ولیکل، هغه به یوازې د خواصو لپاره و او په دې کتابونو کې به هم له وچ کلک تقلید پرته بل هېڅ څه هم نه و.

---

# زلزله

د زلزلې مخه نیول د انسان له وس نه وتلې خبره ده. خو ساینسپوهان په دې هڅه کې دي، چې د زلزلې وخت او سیمه له پېښېدو دمخه معلومه کړي، تر څو د ځاني او مالي تلفاتو د مخنیوي یو څه چاره وشي. د دې هدف لپاره د زلزلې انجینري په نوم یوه بېله څانګه ده. خو په دې برخه کې هم ډېر پرمختګ نه دی شوی. یوازې همدومره شوي دي، چې ساینسپوهانو په اینده کې د راتلونکو زلزلو احتمالي مرکزونه تر یوه حده معلوم کړي دي. په دې ډول دا امکان پیدا شوی دی، چې په دې سیمو کې ودانۍ په داسې تخنیک جوړې شي، چې د زلزلې معمولي جټکې کوم زیان ور ونه رسوي.

د زلزلې موده په عامه توګه له پنځو نه تر لسو ثانیو پورې وي او په دې لنډو لمحو کې که څوک ځان وژغوري، نو ښه تر ښه، که نه وي زرګونه انسانان خپل ځان او کورونه پایللی شي. په روسیه، امریکا او جاپان کې دا کوشش هم شوی دی، چې د زلزلې وخت او سیمه دمخه لا معلومه کړي او د دې لپاره یې د زلزلو نښې هم مطالعه کړې، خو هېڅ داسې نښه یې ونه موندله، چې د هغې په مرسته هر ځل د زلزلې وړاندوینه وکړای شي. زلزله د طبیعت د نه پېښ پېښې ور حادثه ده، نن هم او پخوا هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يوه مسئله

په ابن ماجه او ترمذي کې يو روايت دی. **لانكاح الا بولی** (بې له ولي نکاح نشته) له دې حديث نه بعضو فقهاوو استدلال کړی دی، چې د ښځې د نکاح لپاره د ولي اجازه خامخا پکار ده. د دې خبرې په تائيد کې هغوی د قرآن کريم يو آيت هم راوړي: «**فَلاَ تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ إِذَا تَرَاضَوْاْ بَيْنَهُم بِالْمَعْرُوفِ**» ژباړه: نو له دې يې مه راايساروئ چې له خپلو (خوښ کړيو) مېړونو سره په ښه توګه نکاح وکړي، کله چې خپلو کې سره رضا شوي وي.

ويل کېږي، چې د دې آيت د نزول سبب دا دی، چې د معقل بن يسار صحابي خور ته د هغې مېړه رجعي طلاق ورکړی و. خو د عدت په زمانه کې يې مېړه غوښتل، چې بېرته رجعت ورته وکړي. ښځې هم همدا غوښتل. خو ورور يې د بياځلي نکاح اجازه نه ورکوله. او په دې باندې دا آيت نازل شو، چې اولياء بايد د ښځې د خوښې خلاف کار ونه کړي.

امام شافعي د دې آيت حواله ورکوي او وايي، چې که ولي د نکاح د مخنيوي حق نه لرلی، نو معقل بن يسار به ولې خپله خور راګرځوله او ځنګه يې راګرځولی شوی. معلومه شوه، چې ولي د نکاح د مخنيوي حق لري.

مفتي محمد عبده په دې استدلال باندې د نيوکې په ترڅ کې ليکلي دي چې «په دې آيت کې خو خبره د دې برعکس ښکاري، چې د ښځې د خوښې خلاف سړی حق نه لري، چې مخه يې ونيسي. د دې واقعې اصليت دا دی، چې د جاهليت په زمانه کې چې سړو په ښځو باندې کوم ظالمانه حقونه درلودل، له هغو نه يو دا هم و، چې ولي به هر چا سره غوښتل، ښځه به يې نکاح کوله او چاسره به يې چې نه غوښتل، په نکاح کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

به يې نه ورکوله. حضرت معقل بن يسار د همدې رواج له مخې د خپلې خور د واده مخه نيوله. خو د قرآن کريم دې آيت ياد رواج مات کړ او ښځو ته يې اختيار ورکړ، چې د خپلې خوښې مطابق ودونه وکړي.

او تر کومه چې د حديث خبره ده، نو يو خو د سند له پلوه ډېر قوي نه دی. خو که دا خبره په پام کې ونه نيسو، بياهم له دې حديث نه يوه معنا راوځي، چې «نشته کومه نکاح مگر د ولي له لارې.» ياني د ښځو نکاح به له دود او طريقې سره سم، د ولي په لاس ترسره کېږي. خو له دې نه ارومرو دا نه ثابتېږي، چې د ولي رضامندي يا اجازه په خپل ذات کې لازمي ده.

ولي، د نکاح په عمل کې، د وکيل يا اجنټ حيثيت لري، او د وکيل يا اجنټ اړتيا د دې لپاره ده، چې ښځې چې په عامو غونډو کې د سړو په مخکې د خپلې رضامندي خبره کوي، نو عموما شرم ورته درېږي.

**ان الرجل ليتكلم بالكلمة لايرى بها بأسا يهوى بها سبعين خريفا من النار.** (بخاري، مسلم، ترمذي)

**ژباړه: بنده يوه خبره کوي او په دې خبره کې هيڅ باک نه ويني. خو د دې خبرې له امله دا انسان اويا کاله د دوزخ په اور کې سوځي.**

د همدې لپاره همدا مناسبه ښکاره شوه، چې د ښځو له لورې يو خپلوان يا د کورنۍ مشر د هغوی وياندويي وکړي.

البته که کومه نجلۍ د ولي له وساطت او اجازت پرته خپله نکاح وکړي او د رضامندي کلمې ووايي، نو شرعاً په دې کې هېڅ قباحت يا بدي نشته.

---

# د سياست لپاره جوش او هيجان،

# د دعـــــــوت لپاره سوړ چلند

ضياءالدين احمد برني، د مولانا محمد علي جوهر ډېر خاص ملگری و. دی په خپل يوه مضمون کې ليکي، چې:

«د طرابلس او بلقان جگړو مولانا محمد علي جوهر ډېر پرېشانه کړی و. جوهر د ترکانو له پرلپسې ماتې او شکست نه ډېر زيات غمجن و. نوموړي د دې غمونو د سپکولو دپاره د ډاکټر انصاري په مشرۍ يوه طبي ډله ورواستوله. د بلقان له لومړنۍ جگړې (۱۹۱۸) وروسته چې کله د فاتحينو په منځ کې د غنيمتونو په وېش باندې جگړه راغله، او د بلقان دوهمه جگړه پيل شوه، نو ترکانو له دې فرصت نه په استفادې سره په ايډريانوپل ببرته قبضه وکړه. په دې وخت کې په اسلامي نړۍ د خوشالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غیرمعمولي ځپې خپرې شوې. دا خبره چې کله د رایټر له لارې دهلي ته راورسېده، نو شپه ډېره ناوخته شوې وه. خو د مولانا ترک دوستي له دې اټکل کړئ، چې نوموړی دې ته هم په تمه نه شو، چې دا خبر په سهار کې د ورځپاڼو له لارې تر خلکو ورسېږي، بلکې څو ملګري په موټر کې سیده جامع جومات ته لاړل او په لاره کې یې په چیغو، چیغو مسلمانانو ته دا خوشحالوونکی خبر رساوه. سره له دې چې شپه ناوخته وه، خو زرګونه خلک جومات کې راټول شول. او مولانا ډېره دردوونکې وینا وکړه او د دې زړې اهمیت یې په کې واضح کړ. هغه شپه هم څه د هیجان شپه وه.» مولانا محمد علي، (۱۹۷۶ز) مرتبه سید نظر برني، صفحه ۸۹

زموږ معاصر تاریخ له دغه ډول پېښو پورمامور دی او دا راته وايي، چې د سیاسي او جذباتي کارونو لپاره په مسلمانانو کې څومره جوش او جذبه وه. مګر د خدای تربندګانو پورې د الهي دین د رسولو لپاره په هغوی کې هېڅ سپرغۍ بله نه شوه. د «رایټر» سیاسي خبرونو په هغوی کې بې‌چیني پیدا کولی شوه، خو د قرآن اخروي خبرونو هغوی بې قراره نه کړل، چې له خپلو کورونو راووځي او ټولو قومونو ته ووايي چې «اې خلکو! یوه ورځ به مړه کېږئ او له مرګ نه وروسته به خدای ته د خپلو اعمالو حساب ورکوئ.»



په اوسنۍ زمانه کې د مسلمانانو د بې‌شمېره قربانیو باوجود د مسلمانانو د بربادۍ یوازنۍ وجه همدا ده، چې دوی د پیغام‌برۍ هغه دنده سرته ونه رسوله، چې خدای ورباندې فرض کړې وه او ظاهره خبره ده، چې یو خادم له خپلې اصلي دندې واوړي، نو بیا که په نورو ډګرونو کې هر څومره سربښندنې هم وکړي، په هر حال کې به د سزا مستحق وي نه د انعام.

# دا هېڅ مسئله نه ده

ویل کېږي چې معاصر تمدن، مذهب په فرسوده او بې ګټې شي بدل کړ. هغه څه شی دی، چې غربي تمدن انسانیت ته ورکړې دي؟ د نوې طرز سورلۍ دي، د نوي ډېزاین کورونه دي، د مواصلاتو نوي وسایل دي، نوي لباسونه دي. لنډه دا چې په دنیا کې د ژوند تېرولو لپاره نوي توکي او سامانونه دي، چې د تېرو سامانو په پرتله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر ارامه، ډېر خوش نما او ډېر چټک دي. پوښتنه دا ده، د دې سامانونو او اسبابو يې په خدای او مذهب باندې د عقيدې لرلو يا نه لرلو له مسئلې سره څه؟

له يو چا سره چې د نوي طرز کور يا موټر وي، نو آيا د دې معنا دا ده، چې د هغه لپاره د خدای وجود بې معنا شوی دی. آيا د سيم او ټيلي‌فون په مرسته د پيغام رسېدنې له کبله د وحي او الهام د عقيدې ترديد کېږي؟ آيا له خوندورو خوړو، سترګو ته ښکلو لباسونو او اعلی فرنيچرونو وروسته په جنت او دوزخ باندې د ايمان اړتيا نه پاتې کېږي؟ آيا د اوس زماني ښځې چې د ټايپ رايټر په ډېره خپلې ګوتې تېزې خوځولی شي، نو له دې دا ثابتېږي، چې د «الرجال قوامون علی النساء» آيت منسوخ شو؟ آيا د ملي شورا او پارلمان په ښکلو ودانيو کې د ناستو ځينو کسانو قانون سازي د دې خبرې پخلی کوي، چې د شريعت قانون د اوسنی زمانې لپاره بې معنا شوی دی.

موږ په دې خبره نه پوهېږو، چې د معاصرو توکو او سامانونو، ذرايعو او وسايلو د اهميت او افاديت د منلو يې د مذهبي حقيقتونو له تائيد او ترديد سره څه اړيکه ده.

حقيقت دا دی، چې د معاصر تمدن لوازم له مذهب سره په حقيقي لحاظ هېڅ ټکر نه لري، بلکې دغه ټکر د انسان د سطحيت زېږنده دی. د انسان تر ټولو لويه کمزوري دا ده، چې په سطحي شيانو پورې وابسته کېږي او ظاهري شيانو ته د اصلي اهميت د شيانو په سترګه ګوري.

همدا وجه ده، چې کله د فطرت پټ رازونه رابرسېره شول، او د عيش او عشرت او زيبائش او ارائش توکي پيدا شول، نو انسان په دې شيانو کې دومره غرق شو، چې همدا فکر يې وکړ، چې بس له دې ور اخوا هېڅ حقيقت نشته. له دنيوي ساز او سامان پرته هر شی د ده په سترګو کې بې ارزښت وګرځېدل.

> **رسول اللّه**
> صلی الله عليه وسلم
> **وفرمايل**
>
> **انكم ستختلفون من بعدي، فما جاءكم عني فاعرضوه علي كتاب اللّٰه، فما وافقه فمني و ما خالفه فليس مني.**
>
> ژباړه: رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم وفرمايل: بې شکه له ما وروسته به تاسې په اختلافاتو کې لوېږئ. نو زما هره خبره چې تر تاسې در ورسېږي، نو د خدای د کتاب په رڼا کې يې وکورئ. هغه خبره چې له دې کتاب سره موافقه وه، هغه زما خبره ده. او هغه خبره چې له دې کتاب سره مخالفه وه، هغه په ما پورې اړه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# خځلې او کثافات هم بې ګټې نه دي

هره ورځ د سهار له خوا ليدل کېږي، چې د ښاروالۍ کارمندان د ټول ښار کثافات ټولوي او په موټرو کې يې له ښاره دباندې غورځوي. کورني خرڅوري، صنعتي کباړ، استعمال شوي توکي، کاغذونه، فلزات، پلاستيکونه او داسې نور زموږ په ژبه کې يوازې کثافات دي او د عمومي تصور له مخې يوازنی مصرف يې دا دی، چې راټول شي او په يوه لويه کنده کې وغورځول شي.

خو غربي پوهانو څېړنې وکړې او معلومه يې کړه، چې په دې خځلو او کثافاتو کې يو ډېر لوی ځواک پټ دی او هغه ځواک هغه انرژي ده، چې مجموعي اندازه يې په يوه ساعت کې د تودوخې د بريتانوي واحد يا B.T.U له مخې ۳۱۷۵ نه تر ۸۷۳۰ واحده کېږي.

دې موندنې يو په يو خځلو او کثافاتو ته هغه مقام ورکړ، چې سکاره او پټرول يې لري. بيا په اروپا کې يو تخنيک منځته راغی، چې ګاربج بوايلر (Garbage Boiler) يې بولي. د دې طرحې له مخې د اروپا په ټولو ښارونو کې ځانګړي بوايلرونه (جوشوونکي) او بټۍ جوړې شوې دي او د ښار ټول کورني کثافات او صنعتي کباړ ان تر دې چې مات فرنيچر او سايکل هم په دې بټيو کې غورځوي. دا کثافات او فرسوده توکي په دې بټيو کې سوځول کېږي. له دې اوره انرژي توليدېږي، چې بخار جوړوي او دغه بخار برقي جنراتور ته انرژي ورکوي او بجلي توليدوي. په دې ډول خځلې او کثافات بالاخره په برق تبديل شي، چې د نني عصر تر ټولو ستر ځواک دی او په اوسنۍ زمانه کې يې ټول انساني تمدن متحرک کړی دی.

کثافات په عامو حالاتو کې يوازې خځلې دي، خو چې پوهه او خواري ورسره ګډه شي، نو په برق بدل شي، چې له هغه نه ډېر زورور شی په دنيا کې بل نشته.

معلومه شوه، چې الله تعالی په دې دنيا کې دومره بې شمېره امکانات ايښي دي، چې دلته کثافات هم بې ګټې له منځه نه ځي. په همدې ډول که يو قوم دومره په زوال او پستي کې ولوېږي، چې خلک د «بشري کثافاتو» په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګه ورته وګوري، بيا هم د خدای په دې کاينات کې د دې قوم لپاره د مايوسي هېڅ سوال نه پيدا کېږي او کولی شي، چې له دې کثافت خانې راووځي او خپل انتهايي لوړ مقام ته ځان ورسوي. په دې شرط چې د خپلو دروني امکاناتو د استفادې لپاره د پوهې او خوارۍ هغه عمل ترسره کړي، چې د ګاربج بوايلر په مثال کې ليدل کېږي.

## د قرآن کريم په هکله

«ما قرآن مطالعه کړ او د دې کتاب تر ټولو لويه خوبي مې دا وليده، چې دا کتاب د انسان له فطرت سره بالکل مطابق دی.» (ګاندي)

«هغه وخت لرې نه دی، چې قرآن به د خپل تلپاتې صداقت او روحانيت په زور ټول مذاهب په خپل ځان کې ور ورنغاړي.» (ټاګور)

«ما تورات، انجيل او ويد ټول لوستي، خو يوازې قرآن داسې کتاب دی، چې له ټولو نه ډېر اعلی او لوړ راته ښکاره شو.» (ګورونانک)

### يو اقتباس

**شاه ولي اللّه دهلوي (۱۷۶۲– ۱۷۰۳) په حجة اللّه البالغة (باب الفتن) کې ليکلي دي: «فيرى الانسان اظرف مايكون واعقله و ليس في قلبه مقدار شيئ من الامانة لا بالنسبة الى دين الله ولا بالنسبة الى معاملات الناس.»**

**ژباړه: انسان بعضي وختونه ډېر عقلمن او عالي ظرف ښکاري. خو په زړه کې يې د امانت يوه ذره هومره هم نه وي. نه د الهي دين له پلوه او نه له خلکو سره د خپلمنځي راکړې ورکړې له پلوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ځواک خزانه ستاسې دننه ده

د نپولین نوم په نظامي تاریخ کې د لوی عظمت سمبول دی. سره له دې چې اندام یې چاغ و، خو ونه یې ډېره ټیټه وه. یوه ورځ دی د رسم گذشت په میدان کې په معمولي جامو کې ولاړ و. په دې شېبه کې یو پوځي له شا راغی او په دې فکر چې کوم معمولي عسکر دی، د نپولین له سره یې خبز وواهه. بیا یې په ډېر ویاړ شاته راوکتل او چې د ولاړ کس څېرې ته یې وکتل، نو هغه نپولین و. نپولین په ډېره سنجیدگي خپل عسکر ته کتل.



عسکر چې ناڅاپه خپل ستر قومندان نپولین په دې ډول ولیده، خپل هوش او حواس یې له لاسه ورکړل او ځای په ځای یې ساه ورکړه.

نو معلومه شوه، چې د ځواک اصلي سرچینه د انسان خپل احساس دی. هماغه نپولین دی او هماغه عسکر. خو یو ځل په ډېر ویاړ د نپولین له سره خبز وهي او بل ځل یې په لیدو دومره بدحواسه کېږي، چې سمدستي خپله ساه له لاسه ورکوي.

دا دواړه د احساس کرشمې دي. که ستاسې په زړه کې وېره نه وي، نو زمري ته هم ورغاړې وتی شئ او له سیندونو هم تېرېدی شئ. خو که په زړه کې مو شک او وېره وغورځېده، نو د گیدړانو رمه به مو هم وار پار خطا کړي او عادي ویالې به مو هم د غرقولو لپاره بس وي.

پورته چې موږ د نپولین د عسکر کوم مثال تېر کړ، هغه په دې پورې اړه لري، چې یو زړور کس هم په څه ډول د وارخطايي له امله خپل شته ځواک له لاسه ورکوي. اوس یو داسې مثال درواخلئ، چې یو کمزوری او شکست خورده انسان مازې د زړه د کیفیت په بدلېدو سره بېرته د فتحې او بریا تاج په سروي.

د سکاټلېنډ پاچا رابرټ بروس د انگلستان د پاچا لومړي ایډورډ په خلاف بغاوت کړی و، چې د سکاټلینډ د لوړ اقتدار دعوه یې کوله او په ۱۳۰۶ز کې یې د «سکاټلینډ پاچا» ته تاج هم ور په سر کړ.

په دې جگړه کې رابرټ بروس ډېره سخته ماتې وخوړله او ځنگلونو او بیابانونو ته یې پناه یووړه. خو په ۱۳۱۴ز کې یې یو ځل بیا د انگلستان له پاچا دوهم ایډورډ سره په بناک برن کې جگړه وکړه او هغه ته یې ماتې ورکړه. او سکاټ لینډ یې له انگرېزانو نه ازاد کړ. له هغه وروسته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «لومړي رابرټ» په نوم تر ۱۳۲۹ز پورې په سکاټلینډ واکمني وکړه.

بروس له ماتې وروسته فتحه ځنګه حاصله کړه، په دې اړه یوه دلچسپه قصه روایت کېږي. دی یوه ورځ په ځنګله کې په غار کې پروت و او ځان سره یې سوچونه وهل چې «نور باید د انګلستان له پاچا سره د جګړې فکرونه پرېږدم.» نوموړي د خپلې بریا هېڅ امید نه لیده. له څو ځله جګړو وروسته بلاخره بیخي ناهیلی شوی و.

په دې وخت کې په غار کې یوه وړه واقعه پېښه شوه. یوه غنه د خپلې ځالې له نازک تار نه په ځمکه راوغورځېده. د رابرټ بروس سترګې په دې غنه کې خنبې شوې. ده ولیدل چې غنې خپله یوه لحه هم ضایعه نه کړه او په تار پورې یې ځان ونښلاوه او بېرته یې د ختلو هڅه پیل کړه. خو ځالې ته چې نیږدې ورسېده، بېرته راونښیده او بیا د تېر ځل غوندې په ځمکه راوغورځېده. په دې ډول دا غنه بیا بیا ځلې ختله او بیا بیا به لوېدله. خو خپله حوصله یې ونه بایلله او هر ځل به په هماغه کار کې مشغوله شوه، چې تر دې دمخه به په کې ناکامه شوې وه.

رابرټ بروس د غنې د ناکامۍ تجربې شمېرلې. تر دې چې کله غنه نهم ځل هم په ځمکه وغورځېده، نو خندا ورغله او ځان سره یې وویل «اوس به دا حشره نور د ختلو حماقت ونه کړي.» خو کله یې چې ولیدل، چې غنې له یوې شېبې انتظار پرته په لسم ځل هم خپله هڅه پیل کړه، نو له ډېرې حیرانتیا یې خوله وازه پاتې شوه.

دا ځل د رابرټ بروس په وړاندې یوه بله صحنه وه. ویې لیدل، چې غنه خپل کور ته ډېره نیږدې ورسېدله. غنه ورو په ورو پورته ختله، تر دې چې فاصله یې ډېره کمه پاتې شوه او وروستی خېز یې وواهه، غنه په خپله کې ځاله ناسته وه.



د دې صحنې په لیدو، رابرټ بروس چیغه کړه «ښا، هغه خلک بریالي کېږي، چې زړه نه اچوي او پرلپسې خپلې هلې ځلې کوي.» یوه شېبه یې دمه وکړه او بیا یې وویل «یوې معمولي حشرې په پرلپسې هڅو خپله لوبه وګټله. نو زه یې ولې نه شم ګټلی؟»

رابرټ بروس له غار نه راووت او د خپلې اخري پرېکنده جګړې لپاره یې چمتووالی ونیوه، له تازه حوصلو سره د انګلستان له پاچا سره وجنګېده او دا ځل یې بریا خپله کړه.

حقیقت دا دی، چې «زه داسې نه شم کولی» هسې یوه بزدلانه خبره ده. هر انسان هر څه کولی شي او هره ماتې بېرته په نوې بریا بدلېدی شي. په دې شرط چې د پرلپسې هڅو حوصله په ځان کې پیدا کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# کتاب نړی

«Let God Be True» کتاب د عیسویانو یوې نړیوالې ادارې خپور کړی دی. د دې کتاب نوم «خدای رښتینی دی»، د انجیل له یوه څپرکي «د رومیانو په نوم لیک» (۳:۴) څخه اخیستل شوی دی. د دې کتاب لومړنی چاپ په ۱۹۴۶ز کې په یو کروړ او درې زره ټوکونو کې چاپ شو. له موږ سره د دې کتاب دوهم چاپ دی، چې په ۱۹۵۲ کې ۲,۵ میلیونه ټوکه چاپ شوی و.

«مقدس تثلیث» د عیسوي مذهب مرکزي او بنیادي عقیده ده. میلیونونه انسان یاده عقیده تر ټولو لویه رښتینولي ګڼي. د دې عقیدې مطلب دا دی، چې پلار، زوی او روح‌القدس درې واړه د خدایي طاقتونو خاوندان دي. درې واړه له یو بل نه بېل، بېل دي، خو بیا هم یو دي او درې واړه یو دي، خو بیا هم درې دي. ښکاره ده، چې دغسې عقیده د انساني عقل له ګرفت نه وتلې خبره ده. د کتاب لیکوال لیکلي دي، چې دغسې پاشلي او ګډوډ اصل د خدای له لوري راغلی اصل نه شي کېدی، په دې چې خدای د ګډوډۍ او انتشار خالق نه دی (د کرنتیانو په نوم ۱۴ :۳۳)

د تثلیث عقیده په لرغوني بابل او مصریانو او نورو مذهبي کړیو کې هم وه. له مسیح وروسته عیسویانو هم دا عقیده ورخپله کړه او په دوهمه عیسوي پېړۍ کې ترتولین، چې په قرطاجنه کې اوسېده، لاتیني کلمه (Trinitas) ورته دود کړه. همدا کلمه په انګریزي کې د (Trinity) په توګه مستعمله شوه. تر دې پخوا دا کلمه په کوم مقدس کتاب کې نه وه راغلې. ورپسې دا کلمه تیوسیس په یوناني ژبه کې رواج کړه. د تیوسیس زمانه هم دوهمه عیسوي پېړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه. په څلورمه پېړۍ کې (۳۲۵ز) د قسطنطین پاچا په مشرۍ کې په نیقیا (کوچنۍ اسیا) کې د عیسویانو یوه شورا جوړه شوه. او دې شورا تثلیث د عیسویت رسمي عقیده وګرځوله.

د حیرانتیا خبره دا ده، چې د تثلیث عقیده سره له دې چې دومره مهمه ده، خو په انجیل کې نشته. د انجیل څلور واړه مقدس بابونه (متی، مرقس، لوقا، یوحنا) د دې عقیدې له بیان نه خالي دي. مازې یو څو حوالې یې راوړل کېږي، چې په هېڅ ډول هم کوم څه نه ثابتوي:

زه او پلار یو، یو. (یوحنا ۱۰ :۳)

هغه چې په وجود کې ښکاره شو. (تمیهیس ۳ :۱۶)

ښکاره ده چې له دغه ډول ګونګو کلمو نه دومره لویه عقیده نه شو اخذ کولی، چې د تثلیث په نوم مشهوره ده. په ټول انجیل کې یو آیت په دې مفهوم کې راغلی دی. خو د کتاب لیکوال ثابته کړې ده، چې هغه آیت الحاقي دی.

دا آیت د یوحنا په عام لیک کې دی. د دې آیت ترجمه دا ده:«او شاهدي ویونکي درې دي. پلار، کلمه، روح‌القدس او دا درې واړه یو دي.» (۵: ۷)

سره له دې چې د «خدایي» د درې ګوني وېش د ثبوت لپاره دا آیت هم په بشپړه توګه کافي نه دی، خو د حیرانتیا خبره ده، چې دغه آیت هم د انجیل په لرغونو نسخو کې نه دی راغلی. له همدې ثابتېږي، چې دا آیت الحاقي دی او په وروسته وختونو کې په متن ور اضافه شوی دی. لیکوال دغه آیت د «خدای په کلام کې د زیاتوني یو څرګند مثال» (مخ ۱۰۳) بللی دی. او د یوناني ژبې د عیسوي عالم بنجامن ولسن قول یې راوړی دی، هغه لیکلي چې «دا آیت د انجیل په پخوانیو نسخو کې په یوه کې هم نه دی راغلی. دا نسخې له پنځلسمې پېړۍ نه دمخه لیکل شوې وې. هېڅ یوناني عیسوي لیکوال د دې آیت یادونه نه ده کړې. د لرغونو لاتیني عیسویانو لیکنې هم له دې آیت نه خالي دي. له دې له ورایه ثابتېږي، چې دا عبارت جعلي دی.» (۱۰۳)

یو ښکاري که د حیوانْ په سیوري باندې د حیوانْ په ګومانْ وار وکړي، نو وار به یې خطا لاړ شي او د کارتوس له خالي کېدو وروسته به هم دی له خپل مطلوب ښکار نه محروم پاتې وي. همدا حال د هغو خلکو دی، چې د ژوند د هدفْ په ټاکلو کې تېروتلي وي. که تاسې د خپل هدفْ مسیر سم نه وي ټاکلی، نو ټولې هڅې او زحمتونه به مو همداسې خطا لاړې شي، لکه یو ښکاري چې په غلط هدفْ ډز وکړي او بلاخره له تش کارتوس پرته هېڅ هم په لاس ور نه شي.

د بایبل د تاریخي حیثیت په اړه لیکوال لیکلي دي چې د بایبل ٦٦ کتابونه په شپاړسو پېړیو کې لسګونو کسانو لیکلي دي. موسی علیه السلام په لومړي ځل په ۱۵۱۴ ق م کې لیکلی. او تر ټولو وروسته د یوحنا لیکونه په ۹۸ز

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې لیکل شوي دي. د بایبل د وروستۍ برخې له لیکل کېدو ۱۹ سوه کاله وروسته موږ څنګه پوه شو، چې دا ټولې حوالې او انتسابونه صحیح دي. که دا ومنو، چې د بایبل ابتدایي ترتیبوونکو ته د خدای له لوري الهام شوی و، نو بیا هم د دې خبرې څه ثبوت دی، چې هغه دې نن هم په خوندي حالت کې وي، په دې چې «د بایبل هېڅ لیک هم نن ورځ موږ په لاس کې نه لرو.»

د لیکوال هدف له بایبل نه د خلکو لرې کول نه دي، بلکې مقصد یې د خلکو ورته رانیږدې کول دي. دی وایي، چې بایبل په خپل اوسني حالت کې د نن ورځې انسان لپاره څه نه لري. د ده لپاره بایبل خدایي کتاب دی. او اصلاً هماغسې حق دی، څنګه چې خدای حق دی. خو انساني زیاتونو او تحریفونو د خلکو په سترګو کې بې اعتباره کړی دی. او د دې لپاره چې معاصر انسان بېرته بایبل ته رانیږدې شي، پکار ده، چې ملاوټې برخې ورنه بېلې شي.

د لیکوال دا خبره په خپل ذات کې سمه ده. خو دا سوال بیا هم پاتې کېږي، چې د بایبل د سمو او ناسمو برخو د ارزولو معیار به څه وي؟ آیا انساني عقل؟ ښکاره ده چې د خدای کلام په انساني معیار نه شو ارزولی. که په خدایي کلام کې تحریف او ملاوټ وشي، نو هغه یوازې د یوه دوهم خدایي کلام په مرسته ارزول کېدی شي، نه د انساني عقل په ذریعه.

---

# د اسلام په ابتدایي زمانه کې د دفترونو نظام

حضرت عمر رض د خپل خلافت په زمانه کې د دفترونو نظام رواج کړ. په پیل کې خلفاوو د لیک لپاره په عربانو سربېره له غلامانو او عجمیانو نه کومک اخیسته. په دې وخت کې به په هر ولایت کې د محصولاتو حساب کتاب د هغې سیمې په ځایي ژبه لیکل کېده. په عراق او ایران کې فارسي، په شام او مصر کې قبطي. وروسته چې کله عربانو دا فن زده کړ، نو هغوی پخپله دا اړتیا پوره کوله. د عبدالملک بن مروان او د هغه د زوی ولید تر زمانې پورې د ټولو محصولاتو حساب عربي ژبې ته اړول شوی و. په عراق کې صالح بن عبدالرحمن د حجاج د ګورنرۍ په زمانه کې د هغې سیمې د دفتر محصولات عربي ژبې ته واړول. په شام کې د خلیفه ولید بن عبدالملک په زمانه کې ابو ثابت سلیمان بن سعد دا خدمت سرته ورساوه. په بصره کې د ولید بن عبدالملک په زمانه کې دا دنده ابن سیر بوع فزاري حمصي ته ورسېده او ټول کارونه به په عربي ژبه کې کېدل. خو دا یوازې د محصولاتو د دفترونو معامله وه. تر کومه چې د پوځي دفترونو او نورو دولتي لیکونو خبره ده، هغه له ابتدا نه په عربي ژبه کې دود وو.

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مسایلو نوعیت

له یوه کس نه مې پوښتنه وکړه چې «په شخصي ژوند کې هر انسان حقیقت پلوی وي. خو په ملي مسایلو کې بیا هر انسان جذباتي شي. په شخصي معاملاتو کې هوښیار او په ملي معاملاتو کې بې عقل، د دې توپیر څلند په علت پوه نه شوم.»

ځاته مې چې دا خبره کړې وه، یو عادي باسواده سړی و. خو کوم ځواب یې چې راکړ، هغه دلته په لیکلو ارزي. هغه وویل «د دې علت ډېر ساده دی. په شخصي مسایلو کې مقصود نتیجه وي او په ملي مسایلو کې هدف رهبري. بس له دې پرته د دې توپیر څلند هېڅ وجه نشته.»

دا واقعیت دی، چې هرکله ذهنیت داسې وي، چې خپل کوشش به تر یوې نتیجې پورې رسوو، نو انسان به په مسئله باندې ځان پوه کړي، په سنجیده توګه به خپله تګلاره طرحه کړي. د غوغاوو د سیاست په ځای به د چوپتیا سیاست ور ونیسي. خو د دې بالعکس د رهبرۍ د مزاج لپاره دا شیان هېڅ اهمیت نه لري، په دې چې رهبري خو په یوه نعره، یوه جذباتي وینا او د اخبارونو په سرلیکونو حاصلېږي. تر دې چې که یو انسان داسې اقدام وکړي، چې ټول قوم د بربادۍ وروستۍ غاړې ته ورسوي، بیا به هم د هغه رهبري سلامته پاتې وي. د رهبرۍ لپاره اصلاحي پایله نه یوازې اړینه نه ده، بلکې بې ګټې هم ده. په دې چې په اکثرو حالاتو کې د اصلاحي اقدام په ځای تخریبي اقدام انسان ډېر ژر راپورته کوي. خو یوازې دومره خوشبختي باید ولري، چې انسان په دې کې بریالی شي، چې خپل تخریبي اقدام ته د انقلابي اقدام نوم ورکړای شي.

(ظفرالاسلام خان)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قرآن: یوه ژبنۍ معجزه

په دنيا کې چې نن ورځ ځومره پخواني کتابونه راپاتې دي، په هغو کې قرآن يوازينۍ هيښوونکې استثنا ده. د ټولو مقدسو کتابونو اصلي ژبې د تاريخ په الماريو کې بندې پرتې دي. خو د قرآن ژبه (عربي) نن ورځ هم په خپل حال ژوندۍ پاتې ده. نن ورځ هم ميليونونه انسانان په هماغه ژبه ليک او لوست کوي، چې شاوخوا يونيم زر کاله پخوا قرآن په کې نازل شوی و. دا واقعيت په يقيني ډول قرآن يو معجزوي کتاب ثابتوي. په دې چې له قرآن پرته په ټول بشري تاريخ کې هېڅ داسې کتاب نشته، چې په وروسته زمانو کې دې يې هم خپله اصلي ژبه ژوندۍ ساتلې وي.

مثلاً انجيل در واخلئ، چې قرآن ته د زمانې له پلوه تر ټولو نيږدې مقدس کتاب دی. د دې کتاب حال دا دی، چې تر اوسه پورې په قاطع ډول دا هم نه ده معلومه شوې، چې حضرت مسيح به په کومه ژبه خبرې کولې. د قياس په ډول ويل کېږي، چې غالباً ژبه يې آرامي وه. خو د انجيل په صورت کې چې نن ورځ د حضرت مسيح د لارښوونو کوم ريکارډ تر موږه رارسېدلی دی، د هغه تر ټولو لرغونې نسخه په يوناني ژبه کې ده. ګواکې د حضرت مسيح د افکارو او نظرياتو فقط ژباړلی حالت موږ ته راپاتې دی. بيا دا يوناني ژبه هم له لرغونې او معاصرې يوناني ژبې نه بالکل بل راز ده، تر دې چې د نولسمې پېړۍ تر پايه پورې په انجيل کې لږ تر لږه ۵۵۰ کلمې (د ټول متن ۱۲ فيصده) داسې وې چې معناوې يې معلومې نه وې. په نولسمه پېړۍ کې الماني عالم اډولف ډيزمن ته په مصر کې ځينې لرغونې ليکنې په لاس ورغلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو له مطالعې وروسته ډېزمن اټکل وکړ، چې «د بابیل یوناني ژبه» په اصل کې د لرغونې یوناني ژبې یوه غیرعلمي لهجه وه، چې د لومړۍ میلادي پېړۍ د فلسطین په وګړو کې دود وه. نوموړي د ځینو نامعلومو الفاظو یو څه معناوې هم راپیدا کړې. خو تر اوسه پورې هم په یوناني انجیل کې ۵۰ کلمې (د ټول متن یو فیصد) داسې دي، چې تر اوسه پورې یې هم معناوې نه دي معلومې شوې.

ارنسټ رینان (۱۸۹۲- ۱۸۲۳) د عربي ژبې له مطالعې وروسته په خپل کتاب «اللغات السامیه» کې لیکلي دي: «د بشري تاریخ تر ټولو هیښوونکې پېښه عربي ژبه ده. دا ژبه په لرغوني تاریخ کې یوه ګمنامه ژبه وه. خو بیا ناڅاپه د یوې بشپړې ژبې په حیث راښکاره شوه او له هغه وروسته په دې ژبه کې هېڅ پامور بدلون نه دی راغلی، تر دې چې دا ژبه نه ماشوموتوب لري او نه زړښت. په اوله ورځ چې څنګه وه، نن هم هماغسې ده.»

د قرآن د ژبې په هکله د فرانسوي مستشرق دا اعتراف په اصل کې د قرآن د اعجاز اعتراف دی. ځکه په حقیقت کې دا د قرآن معجزوي ادب دی، چې عربي ژبه یې د بدلون له هغه عام تاریخي قانون نه مستثنی وساتله، چې نورې ټولې ژبې یې اغېزمنې کړې. مسیحي عالم جرجي زیدان (۱۹۱۴- ۱۸۶۱) په خپل کتاب آداب اللغة العربیه کې په دې ټکو اعتراف کړی دی: «**وبالجملة فان للقرآن تاثیراً في آداب اللغة العربیة لیس للکتاب دیني مثله في اللغات الاخری.**»

ژباړه: لنډه دا چې د عربي ژبې په ادب باندې قرآن داسې غیر معمولي اغېز شیندلی دی، چې ساری یې د کوم بل دیني کتاب په نورو ژبو کې نه لیدل کېږي.

دا حقیقت دی، چې د دنیا په ټولو ژبو د بدلون څپې راغلي دي. حتی د یوې ژبې اوسنی عالم هم له قاموس او شرحې پرته د هغې ژبې په څو سوه کاله پخواني کتاب نه شي پوهېدی. د دې بدلون اسباب عموما دوه ډوله وي. یو، اجتماعي انقلابونه او دوهم ادبي ارتقا. په تېرو پېړیو کې له عربي ژبې سره هم دا دواړه واقعات په هماغه شدت پېښ شول، چې یوې بلې ژبې ته ورپېښېدی شي. خو دې واقعاتو د ژبې په ژبنیز ساخت کې هېڅ تغییر ونه شو کولی. عربي ژبه نن ورځ هم هماغه ژبه ده، چې څوارلس سوه کاله دمخه د قرآن کریم د نزول په وخت کې په مکه کې ویل کېده او د افهام و تفهیم وړ وه. د هومر (مړ ۸۵۰ ق م) الیاد، د تولسي داس (مړ ۱۶۲۳ز) رامائن، او د شکسپیر (۱۶۱۶- ۱۵۶۴) ننداري نن ورځ د انساني ادب شاهکارونه ګڼل کېږي او د تالیف له زمانې نه تر اوسه پورې په دوامداره توګه لوستل کېږي. خو دې اثارو خپلې ژبې په هغه ابتدایي بڼه خوندي ونه شوی ساتلای، چې دا شهکارونه په کې لیکل شوي وو. د دې اثارو ژبې اوس کلاسیکې ژبې دي نه ژوندۍ ژبې. د ژبو په تاریخ کې قرآن یوازنی مثال دی، چې په بېلابېلو علمي او سیاسي انقلابونو سربېره یې خپله ژبه په هماغه حالت کې ساتلې ده، چې د قرآن کریم د نزول په وخت کې وه. په بشري ټولنه کې هېڅ بدلون هم په دې ژبه کې د بدلون سبب نه شو. دا ټکی په یقیني ډول د دې ثبوت دی، چې قرآن کریم یو برتر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلام دی. د تېرو یونیم زر کلونو تاریخ په قطعي ډول دا ثابته کړې ده، چې قرآن یوه معجزه ده، او تر دې وروسته د قرآن کریم د اعجاز لپاره نور هېڅ ثبوت ته ضرورت نشته.

## اجتماعي انقلابونه

اجتماعي انقلابونه په څه ډول په ژبو اغېز ښندي، د دې لپاره د لاتیني ژبې مثال ته راشئ. د لاتیني ژبې مرکز په وروستني دور کې اټلي وګرځېده، خو په اصل کې دا ژبه د اټلي پیداوار نه وه. شاوخوا ۱۲ سوه قبل المیلاد کې د اوسپنې له پېر راوروسته چې کله د منځنۍ اروپا قبایل په شاوخوا سیمو کې خواره واره شول، نو یو شمېر یې، په تېره د الپ غره قبایل اټلي ته ننوتل او په روم او شاخوا سیمو کې یې واړول. د دغو قبایلي او ځایي وګړو د ژبو له ګډېدو نه یوه نوې ژبه پیدا شوه او همدا ابتدایي لاتیني ژبه وه. په دریمه قبل المیلاد پېړۍ کې لیوبس اندرونیکس د یوناني ژبې ځینې ډرامې او کیسې لاتیني ژبې ته وژباړلې او په دې ډول لاتیني ژبې د ادبي ژبې په دهلېز کې پښه کېښوده. په لومړي قبل المیلاد پېړۍ کې چې د رومي سلطنت بیرغونه ورپېدل، نو لاتیني ژبه یې خپله دولتي ژبه وګرځوله. د مسیحیت خپرېدو دا ژبه نوره هم تقویه کړه. په دې ډول په مذهبي او سیاسي، دغه راز په ټولنیز او اقتصادي زور دې ژبې ورځ په ورځ وده وکړه، تر دې چې د لرغوني اروپا تقریباً ټولې سیمې ته یې غځونې وکړې.

د سېنټ آګسټین (۴۳۰- ۳۵۴) په زمانه کې لاتیني ژبه په خپل عروج کې وه. په منځنیو پېړیو کې لاتیني ژبه د نړۍ تر ټولو ستره بین المللي ژبه ګڼل کېدله.

په اتمه پېړۍ کې مسلمانان را ولتېدل او رومي سلطنت یې درې ورې کړ او دې ته یې مجبور کړ، چې په قسطنطنیه کې پناه واخلي. په ۱۴۵۳ کې ترکانو قسطنطنیه فتحه کړه او له دې ځایه یې هم د رومي سلطنت تغر ورټول کړ.

زر کاله دمخه چې کله رومي امپراتوري ونړېده، نو بېلابېلو سیمه ییزو لهجو هم خپل ځان ته لاره وایستله. همدا لهجې وې، چې لاتیني په کې ګډه وه او وروسته په هغو ژبو بدلې شوې، چې نن ورځ یې موږ په فرانسوي، اټالوي، اسپانوي، پرتګالي او رومي ژبو پېژنو. اوس لاتیني ژبه یوازې د رومي کلیسا عبادتي ژبه ده او د ساینس او قانون په اصطلاحاتو کې کاربېږي. اوسمهال لاتیني ژبه ژوندۍ ژبه نه ده، بلکې مازې یو تاریخي حیثیت لري. مثلا نن ورځ که څوک غواړي، چې د نیوټن (۱۷۲۷- ۱۶۴۲) پرنسیپیا اثر ولولي، نو باید لرغوني لاتیني ژبه ورته زده کړي.

همدا معامله ټولو لرغونو ژبو ته وړپېښه شوه. هره ژبه به د بېلا بېلو ټولنیزو حالاتو له کبله وخت په وخت له ادلون بدلون سره مخ کېدله، تر دې چې ابتدایي ژبه به ختمه شوه او ځای به یې بدلې شوې ژبې ونیوه. قومي اختلاط، فرهنګي تصادم، سیاسي انقلاب، د زماني بدلون چې هرکله یوې ژبې ته وړپېښ شوي دي، نو هغه ژبه بالکل په یوه بل څه بدله

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې ده. همدا ټول حالات په تېرو يونيم زر کلونو کې عربي ژبې ته هم ور پېښ شول. خو د حيرانتيا خبره ده، چې عربي ژبې هېڅ بدلون ونه کړ. په دې تغيرپذيره ژبنۍ دنيا کې د عربي ژبې نابدله پاتې کېدل په بشپړه معنا د قرآن معجزه ده.

په ۷۰ز کې يهودي قبايل له شام نه راووتل او يثرب (مديني) ته راغلل. دې وخت کې دلته عمالقه اباد وو، چې ژبه يې عربي وه. له عمالقه‌وو سره له اختلاط وروسته د يهودي نسلونو ژبه هم عربي شوه. خو د دوی عربي د عامو عربانو له عربي نه بېله وه. د دوی عربي د عبراني او عربي ژبې يوه ګډوله وه. همدا پېښه له اسلام نه وروسته، له عربانو سره هغه مهال په ډېره لويه کچه پېښه شوه، چې کله له خپلې عربي خاورې ووتل او د اسيا او افريقا هغو هېوادونو ته يې مخه کړه، چې ژبې يې نورې، نورې وې. خو دې اختلاط هم د دوی په ژبه هېڅ اغېز ونه کړ. عربي ژبه په خپل اصلي حالت کې خوندي پاتې وه.

د قرآن کريم له نزول وروسته عربي ژبې ته دغه ډول لومړنۍ فرصت ان په لومړني دور کې پېښ شو. اسلام د عربو په مختلفو قبايلو کې خپور شو او په اسلامي ښارونو کې د دې خلکو راشه درشه پيل شوه. د مختلفو قبايلو ژبې د تلفظ، وينګ او لهجې له مخې له يو بله ډېرې مختلفې وې. ابو عمرو بن العلاء خو ان دا خبره وکړه چې «**ما لسان حمير بلساننا ولا لغتهم بلغتنا**» يانې د حمير قبيلې ژبه زموږ ژبه نه ده. حضرت عمر رض يو ځل د يوه اعرابي له خولې قرآن کريم واورېده، نو ويې نيوه او نبي کريم ص ته يې راوست. په دې چې هغه کوچې د قرآن کريم الفاظ په داسې ډول ادا کول، چې حضرت عمر په دې پوه نه شو، چې اوس دی د قرآن کريم کومه برخه وايي. همدا راز نبي کريم صلی الله عليه وسلم يو ځل د يوې عرب قبيلې له هيئت سره د هغو په لهجه کې خبرې وکړې، نو حضرت علي رض داسې احساس کړه، ګواکې رسول الله ص په بله ژبه خبره کوي.

د دې وجه د لهجو اختلاف و. مثلاً بنو تميم چې په مشرقي نجد کې اوسېدل، هغو به جيم په ياء ادا کاوه او مسجد ته به يې مسيد او شجرات ته سرات ويل. دغه راز بنو تميم به ق په جيم وايه. مثلاً طريق ته به يې طريج، صديق ته صديج، قدر ته جدر او قاسم ته جاسم ويل. په دې ډول د مختلفو قبايلو د يوځايوالي له امله بايد د ژبني تاريخ د عام قانون مطابق يو نوی بهير پيل شوای وای، چې د يوې نوې ژبې په جوړېدو به پای ته رسېده. خو د قرآن کريم برتر ادب عربي ژبه داسې په خپل موټي کې وساتله، چې دغه راز هېڅ بهير په کې پيل نه شو. د دې بالعکس هغه واقعه پېښه شوه، چې «ډاکټر احمد حسين زيات» په دې ټکو کې بيان کړې ده: «**ما كانت لغة مضر بعد الاسلام لغة امة واحدة و انما كانت لغة لجميع الشعوب التي دخلت في دين الله.**» ژباړه: له اسلام وروسته عربي ژبه د يوه قوم ژبه پاتې نه شوه، بلکې د هغو ټولو قبايلو ژبه شوه، چې د خدای دين ته يې غاړه ايښې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا دا عرب مسلمانان له خپلې خاورې ووتل او یوې خواته یې تر جبل الطارق پورې او بل لوري ته تر کاشغر پورې سیمې فتحه کړې. په دې سیمو کې بېلابېلې ژبې رواج وې او په فارسي، قبطي، بربري، عبراني، سریاني، یوناني، لاتیني، ارامي ژبو به یې خبرې او لیکل کول. په دوی کې داسې قومونه هم وو، چې خپل سیاسي نظام او تمدن یې له عربانو ډېر پرمختللی و. دغه عرب مسلمانانو چې په عراق کې پېښه کېښوده، نو عراق د لرغوني تمدن خاوند و او د لویو، لویو قومونو مرکز پاتې شوی و. د عرب مسلمانانو له ایران سره هم اختلاط وشو، چې د هغه وخت له دوو سترو امپراتوریو څخه یو و. بیا له رومي تمدن او عیسوي مذهب سره مخ شول، چې د ډېر زبردست پېشرفت مقام ته رسېدلي وو. بیا له شام سره مخامخ شول، چېرته چې فینیقي، کنعاني، مصري، یوناني، غساني قومونو د خپلو دودونو او رواجونو ژورې اغېزې پرې ایښې وې. بیا یې له مصر سره مقابله راغله، هغه ځمکه چېرته چې د مشرق او مغرب فلسفو یو بل ته غاړه ورکړې وه. دا ټول اسباب د دې لپاره بالکل کافي وو، چې په عربي ژبه کې یو نوی عمل پیل شي او له ابتدایي ژبې سره د دغو نویو عواملو په پایله کې یوه نوې ژبه رامنځته شي، هغسې چې له نورو ژبو سره وشول. خو د دومره سترې ژبنۍ زلزلې باوجود قرآن کریم د دې ژبې لپاره یو داسې برتر معیار پاتې شو، چې نور ټول عوامل یې د یادې ژبې لپاره بې معنا وګرځول.

د اسلام له فتوحاتو وروسته عربي ژبه صرف د یوه هېواد ژبه پاتې نه شوه، بلکې د لسګونو هېوادونو او قومونو ژبه شوه. د اسیا او افریقا عجمي ملتونو چې کله اسلام ته غاړه کېښوده، نو ورو په ورو یې ژبه هم عربي شوه. له فطري پلوه په دې غیرملکي ملتونو کې د عربي ژبې د ویلو هغه استعداد نه و، چې پخپله په عربانو کې و. او په عربي ژبه کې یې د غیرعربي ژبو د اغېزو له لاسه ډېرې خامیانې پیدا شوې. بیا همدا نه، بلکې په عربانو کې هم هغه خلک چې ډېر باشعوره نه وو، ورو په ورو د دې قومونو د اغېز پرده پرې راوښویېده، تر دې چې پخپله د هغوی ژبه له هم له بدلون سره مخ شوه. په لویو لویو ښارونو کې دا تېروتنې تر ټولو ډېرې وې، په دې چې په لویو ښارونو کې به د بېلا بېلو قومونو خلک راټول وو. اهسته اهسته دې ستونزې خواصو ته هم غځونې وکړې. د زیاد بن امیه دربار ته یو ځل یو سړی راغی او ویې ویل «**توفی ابانا وترک بنون**» (زموږ پلار ومړ او اولاد یې پرېښوده.) په دې جمله کې د **ابانا** په ځای باید **ابونا** ویل شوی وای او د **بنون** په ځای **بنین**. دغه ډول بې شمېره فرقونو ژبې ته لاره وکړه. له نورو تاریخي ژبو سره چې څه وشول، هماغه به خامخا له عربي ژبې سره هم کېدل. خو دلته هم د قرآن کریم ادبي عظمت د عربي ژبې لپاره سپر شو او د عربي ژبې صورت په هماغه شکل کې پاتې شو، چې قرآن ورته ټاکلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ډول پېښې، چې د عربي ژبې په تېر یونیم زر کلن تاریخ کې بیا، بیا مخې ته راغلي دي، د دې ښکاره ثبوت دی، چې قرآن یوه ستره معجزه ده. په دې چې دا په بشپړ ډول د قرآن کریم د عظمت پایله وه، چې عربي یې د بدلون هېڅ عمل او بهیر ته پرې نه ښودله.

په دوهمه هجري پېړۍ کې د اموي سلطنت نړېدنه او د عباسي سلطنت منځته راتګ د عربي ژبې لپاره زبردسته فتنه وه. د بني امیه حکومت سوچه عربي حکومت و. اموي واکمن د عربي قومیت او عربي ژبې او ادب په ملاتړ کې د طرفداري او تعصب تر بریده ټینګ وو. هغوی خپله پلازمېنه دمشق وګرځوله، چې د عربو کلیوالو سیمو په پوله باندې پروت و. د امویانو پوځ، دفتري کارمندان او افسران به ټول عربان وو. خو په عباسي حکومت باندې د ایرانیانو غلبه شوه. عباسیانو د ایرانیانو په مرسته بني امیه ته د پای ټکی ایښی و، د همدې لپاره په دولتي ادارو کې د ایراني عجمو نتوتل لازمي خبره وه، تر دې چې عباسیانو خپل دارالخلافت هم بغداد ته تبدیل کړ، چې ایران ته ډېر ور نیږدې و. دوی د ایرانیانو واګې دومره سستې پرېښودې، چې هغوی د حکومت په ټولو معاملاتو کې خپلواکې لاسوهنې پیل کړې. ایرانیانو عربو او عربي کلچر ته د سپکاوي په سترګه وکتل او په ارادي ډول یې د دې تمدن د تضعیف په تدبیرونو لاس پورې کړ. د عربي عصبیت د کمزورېدو پایله دا شوه، چې ایراني، ترکي، سریاني، رومي او بربري عناصر د حکومت او ټولنې په ټولو معاملاتو حاکم شول. د عربو او غیرعربو ترمنځ خپلوۍ جوړې شوې. د آریایي کلچر او سامي کلچر له یو ځای کېدو سره په ژبه او کلچر کې نوی انقلاب راغی. د کسرا لمسي او د ځمکوالو زامن بیا راپورته شول او هڅې یې پیل کړې، چې د خپلو نیکونو او پلرونو کلچر له نوي سره راژوندی کړي.

دې پېښو په عربي ژبې ډېر ژور اغېز وښنده. د متنبي (۹۶۵- ۹۱۵ز) په زمانه کې چې عربي کوم وضعیت ته رسېدلې وه، د هغې اندازه له دې لاندې څو اشعارو کولی شو:

**مَغاني الشَعبِ طيباً في المَغاني**
**بِمَنزِلَةِ الرَبيعِ مِنَ الزَمانِ**
**وَلَكِنَّ الفَتى العَرَبِيَّ فيها**
**غَريبُ الوَجهِ وَاليَدِ وَاللِسانِ**
**مَلاعِبُ جِنَّةٍ لَو سارَ فيها**
**سُلَيمانٌ لَسارَ بِتَرجُمانِ**

ژباړه: د شعب بوان (ایران) کورونه په کورونو کې داسې غوره او اعلی دي، لکه د زماني په موسمونو کې د پسرلي موسم. خو په دې کلي کې یو عرب ځوان (زه) د مخ، لاس او ژبې له پلوه بالکل نااشنا دی. هغه سلیمان چې پېریان یې تابع و (چې د حیواناتو په ژبه پوهېده) که دې سیمې ته راشي، نو مجبور به وي، چې د ځان لپاره ترجمان ونیسي.

شرح دیوان المتنبی (بیروت ۱۹۳۸) مخ ۳۸۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترکانو او کردانو هم په دې برخه کې د ایرانیانو په پله، پل کېښوده. خو د قرآن ادبي عظمت د عربي ژبې لپاره د سپر غونديې ولاړ و. د دغسې هڅو له امله لنډمهاله کمی، زیاتی خو ارومرو په کې راغی، خو ډېر ژر وځپل شو او په عربي ژبه کې يې کوم تلپاتې بدلون پرې نه ښوده.

له خلیفه متوکل (۲۴۷- ۲۰۷هـ) وروسته عجمي قومونه، ایرانیان او ترکان، په عربي سیمو کې ډېر زیات ننوتل. په ۶۵۶هـ کې هلاکو خان د بغداد سلطنت رانسکور کړ. په ۸۹۸هـ کې اروپايي قومونو د اندلس عربي واکمنۍ له منځه یووړه. په ۹۲۳هـ کې له مصر او شام نه د فاطمیانو ټغر ټول شو او د دغو عربي سیمو واکمني د عثماني ترکانو لاسونو ته ولوېده. د اسلامي حکومت پلازمېنه د قاهرې په ځای قسطنطنیه شوه. دولتي ژبه د عربي په ځای ترکي وټاکل شوه. په عربي ژبه کې غیرعربي کلمو او اسالیبو په ډېر کثرت سره لاره موندله.

په عربي نړۍ پنځه نیم سوه کاله داسې تېر شوي دي، چې ټوله عربي دنیا د عجمي پادشاهانو تر بیرغونو لاندې وه. تر دې چې مغلي، ترکي او ایراني واکمنانو ان د عربي اثارو له منځه وړلو ته هم متې نغاړلې وې. عربي کتابخانو ته اور واچول شو، مدرسې له منځه یووړل شوې، علماء خوار او ذلیل کړای شول. عثماني سلطنت په ټول زور سره د عربانو د تُرک کولو هغه ماموریت په لاره واچاو، چې جمال الدین افغاني ډېر په ځای «تتریک العرب» بللی دی. خو په دې ټولو کې یوه واقعه هم داسې نه وه، چې په عربي ژبه کې دې کوم مستقل بدلون پیدا کړای شي. په بغداد او بخارا کې تاتاریانو، په شام کې صلیبیانو او په اندلس کې اروپايي قومونو عربي ژبې او ادب او عربي کلچر ته داسې زیانونه واړول، چې تنها هماغه د عربي ژبې د نوم او نښان د له منځه وړلو لپاره بیخي بس وو. او له هغه وروسته د نورو ژبو د تاریخ په خبر پکار خو دا وه، چې عربي ژبه هم له نورو سامي ژبو سره ګډه شوې وای. دا ویل به صحیح وي، چې د ترکانو جهالت او د ایرانیانو تعصب که نه وای خنډ شوی، نو عربي ژبه به نن ورځ د ټولې دنیا د مسلمانانو واحده ژبه وای. خو بیا هم تر عربي سیمو پورې هم د عربي ژبې په خپل حال پاتېدنه په بشپړه معنا تنها د قرآن کریم معجزه ده. د قرآن عظمت په دې موده کې خلک مجبور کړل، چې له حکومت او اقتدار سره، سره له عربي ژبې سره خپله اړیکه وساتي. همدا وجه ده، چې په دې دور کې هم بې شمېره داسې خلک پیدا شول، چې عربي ژبې او ادب ته يې خدمتونه وکړل. مثلاً ابن منظور (۷۱۱- ۶۳۰هـ)، ابن خلدون (۸۰۸- ۷۳۲هـ) او داسې نور.

نپولین چې کله په ۱۷۹۸ز کې قاهرې ته ننووت، تر هغه وروسته مصر ته د چاپ صنعت ورسېده او علم او تعلیم وده وکړه، نو عربي ژبې نوی ژوند ولیده، خو د تېرو څو پېړیو حالاتو وضعیت داسې کړی و، چې د مصر او شام د دفترونو ژبه د ترکي او عربي ژبو ګډوله وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۸۸۲ز کې په مصر باندې د انګرېزانو له ولکې وروسته حالت بیا بدل شو. هغوی د عربي په خلاف خپلې ټولې هلې ځلې وکړې. ټول تعلیم یې په انګریزي ژبه کې جبري کړ. د نورو ژبو ښوونیز اداري یې له منځه یووړې. په همدې ډول په کومو عربي سیمو کې چې د فرانسویانو غلبه وه، هلته فرانسوي ژبې رواج شوه. خو شاوخوا تر سلو کلونو پورې د انګرېزي او فرانسوي ژبو له غلبې سره، سره عربي کټ مټ په خپل اصلي حالت کې پاتې شوه. د الفاظو وسعت خو په کې پیدا شو، مثلاً د ټانک لپاره د دبابه کلمه دود شوه، چې پخوا د معمولي منجنیق لپاره کارېدله. دغه راز د بیان په اسلوب کې وسعت راغی، مثلاً د نویو مسلمانانو په حالاتو چې نن ورځ یو کتاب لیکل کېږي، نو «**لماذا اسلمنا**» نوم ورکول کېږي. حال دا چې پخوا د مسجع او مقفی نومونو رواج وو. دغه راز زیات شمېر کلمې د معرب په بڼه هم دود شوې، مثلاً دکتور (ډاکټر). خو په دې شیانو په اصل ژبه کې کوم فرق نه راځي. اصل ژبه نن ورځ هم کټ مټ هماغه ده، چې د قرآن کریم د نزول په وخت کې په مکه کې رواج وه.

## ادبي ارتقا

په ژبو کې د بدلون دوهم سبب د ادیبانو او لیکوالو اثار او شهکارونه دي. هرکله چې یو غیرمعمولي ادیب یا لیکوال دنیا ته راځي، هغه ژبه له ځان سره یوه نوي ژبني اسلوب ته بدرګه کوي او یو نوی اسلوب په کې پیدا کوي. په دې سره ژبه د بدلون او ارتقا پړاوونه وهي، او په همدې ادلون بدلون کې ژبه یو نوی صورت او هیئت پیدا کوي. په عربي ژبه کې د دې بالعکس داسې وشول، چې قرآن له اولې ورځې نه د داسې برتر معیار تله کېښوده، چې هېڅ بشري ادیب په دې ونه توانېده، چې له هغه معیار نه دې پورته لاړ شي. نو ځکه عربي ژبه په هماغه اسلوب کې پاتې شوه، چې قرآن کریم د دې ژبې لپاره مقرر کړی و. یا په نورو ټکو کې، په عربي ژبه کې له قرآن کریم نه وروسته بل «قرآن» ونه لیکل شو او همدا وجه ده، چې له قرآني ژبې پرته کومه بله ژبه هم پیدا نه شوه.

د انګرېزي ژبې مثال در واخلئ. په اوومه میلادي پېړۍ کې انګرېزي یوه معمولي سیمه ییزه ژبه وه، چې د علمي افکارو بیان په کې ممکن نه و. له پنځو سوو کلونو نه هم ډېره عرصه دا ژبه په همدې کې حال کې وه. د انګرېزي ژبې لومړی معمار جافري چاسر (۱۴۰۰- ۱۳۴۰) چې نړۍ ته راغی، نو د انګلستان درباري ژبه فرانسوي وه. چاسر چې په لاتیني، فرانسوي، او اټالوي ژبه پوهېده، په انګرېزي ژبه کې یې شعرونه او نظمونه ولیکل. د خپل غیرمعمولي استعداد او له نورو ژبو سره د بلدتیا له امله نوموړی په دې بریالی شو، چې انګرېزي ژبې ته وده ورکړي او په یوه علمي ژبه یې بدله کړي. د ارنسټ هاسر په خبره، ده د خپلو کامیابو نظمونو په مټ انګرېزي ژبې ته مستحکمه ټېله ورکړه او یوه لهجه یې په داسې زوروره ژبه بدله کړه، چې د ودې او نمو نوي امکانات په کې نغښتي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دوو سوو کلونو پورې چاسر د انګرېزي ژبې د شاعرانو او ادیبانو سرلارى و. تر دې چې د ویلیم شکسپیر (١٦٢٥- ١٥٥٨) لمر راوخوت او له چاسر نه یې ډېر برتر ادبیات وپنځول. د خپلو شعرونو او ډرامو له لارې شکسپیر انګرېزي ژبې ته بېرته یو نوى معیار ورکړ. دا ځل انګرېزي یو بل ګام هم واخیست او د پرمختګ په نوې شاهراه باندې یې خپل سفر ته ادامه ورکړه. دا دور تقریباً تر سلو کلونو پورې پاتې شو، تر دې چې د ساینس راتګ د ژوند د نورو څانګو په څېر په ادبیاتو کې هم نوي معیارونه وضع کړل. اوس د شعر په ځاى نثر او د افسانو په ځاى واقعیت لیکنې اهمیت ومونده. د دې په پایله کې په انګرېزي ژبه کې ساینسي اسلوب منځته راغى. له سویفټ (١٧٤٥- ١٦٦٧) نه تر تې ایس ایلیټ (١٨٨٨- ) پورې لسګونه ادیبان پیدا شول او ژبې ته یې هغه نوى معیار ورکړ، چې اوس موږ ورسره ژوند کوو.

همدا عمل په ټولو ژبو کې شوى دى. یو له بله غوره لیکوال او ادیب یا د ادیبانو ډله راپورته کېږي او د نوي اسلوب په خوا کې ژبې ته نوي لورې او پراوونه هم ورښکاري. په دې ډول ژبه بدلېږي رابدلېږي تر دې چې د څو پېړیو له تېرېدو وروسته په ژبه کې دومره فرق راشي، چې متاخرین په تېره ژبه باندې له قاموس او شرحو پرته اصلاً پوهېدى نه شي.

له دې اصل نه یوازې یوه ژبه مستثنا ده او هغه عربي ژبه ده. همدا ټکى هم د قرآن کریم د دې دعوا په ثبوت کې بس دى، چې هېڅ څوک د قرآن په څېر کتاب نه شي راوړلى. بې له شکه د دې یو ثبوت دا هم دى، چې په تېرو پېړیو کې بې شمېره خلکو د قرآن کریم په ځواب کې د بل قرآن د لیکلو هڅه وکړه، خو له یوه سره ټول په کې ناکامه پاتې شوو. مثلاً مسیلمه بن حبیب، طلیحه بن خویلد، نضر بن الحارث، ابن الراوندي، ابو العلاء المعرى، ابن المقفع، متنبي او داسې نور. په دې برخه کې چې له دوى نه کوم عبارتونو رانقل شوي دي، هغه دومره سطحي دي، چې له قرآن کریم سره یې پرتلنه بیخي رشخند او د خندا وړ ښکاري. مثلاً د مسیلمه د «قرآن» یوه برخه دا وه:

**«یا ضفدع نقي ما تنقین. فلا الماء تکدرین، ولا الشارب تمنعین»**

ژباړه: اې چونګښې! څومره چې ترېدى شې، وترېره. ته نه اوبه خیرنوى شې، نه د ترو مخه نیوى شې.

دغه راز د مسلیمه یو بل «الهام» دا و:

**«لقد أنعم اللّه علی الحبلی، أخرج منها نسمة تسعی، من بین صفاق وحشی»**

**تهذیب سیرة ابن هشام، جلد دوم، صفحه ١٢١**

ژباړه: الله په حامله ښځې ډېر لوى انعام وکړ، د پردې او ګېډې له منځه یې له امیندوارې ښځې څخه منډې وهونکى وجود پیدا کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو له دې نه هم ډېر لوی ثبوت هغه پېښه ده، چې ارنسټ رينان يوه ژبنۍ عجوبه ګڼلې ده. هغسې چې په نورو ژبو کې ژبپوهان او ادبپوهان پيدا شوي، همداسې په عربي ژبه کې هم شاعران او اديبان او ليکوال پيدا شول او اوس هم پيدا کېږي. خو په دې ټوله موده کې هېڅ داسې ژبپوه سر راپورته نه کړ، چې له قرآن کريم نه برتر ادب وړاندې کړي او په عربي ژبه کې نوی لساني معيار وضع کړي او ژبه يوې نوې مرحلې ته ورسوي. نو ځکه ژبه د پرمختګ په هماغه زينه کې پاتې شوه، چې قرآن ورته ټاکلې وه. که د نورو ژبو په څېر په عربي ژبه کې هم داسې خلک پيدا شوي وای، چې د قرآن کريم په پرتله يې غوره ادبيات پنځولي وای، نو ناشونې وه، چې ژبه دې په يوه ځای کې پاتې وای.

په عربي ژبه کې د قرآن کريم مثال همداسې دی، چې ګواکې په ژبه کې وروستی تر ټولو ستر اديب په لومړي ورځ لا پيدا شي. ښکاره ده، چې له هغه وروسته به هېڅ داسې څوک راپورته نه شي، چې په ژبه کې دې کوم بدلون ايجاد کړای شي. هغه ژبه چې د قرآن د نزول په زمانه کې په عربو کې دود وه، قرآن هغې ژبې ته ترقي ورکړه او د اعلیترين ادب بنه يې وروبښله. تر هغه وروسته په دې ژبه کې د بدلون هېڅ سوال نه پيدا کېده.

قرآن کريم د عربي دوديزو اسلوبونو ته وده ورکړه او په ژبه کې يې د توسيع دروازه پرانيستله. مثلاً په سوره اخلاص کې د «احد» کلمې استعمال. پخوا به په عربي کې ژبه دا کلمه د **مضاف مضاف اليه** په توګه کارېدله، لکه **يوم الاحد** (د يکشنبې ورځ) يا د عام نفي لپاره لکه **ما جاء في احد** (زما خواته هېڅ څوک نه دي راغلي.) او داسې نور. مګر قرآن په دې سوره کې «احد» کلمه د الله تعالی لپاره د صفت په توګه کارولې، چې په عربي ژبه کې نااشنا خبره وه.

په عربي کې يې د نورو ژبو الفاظ راګډ کړل مثلاً **استبرق**، **سرادق** (فارسي)، **صراط** (يوناني)، **يم** (سامي)، **قسطاس**، **سجيل**، **مشكاة**، **جبت**، **سندس**، **زنجبيل** او داسې نور. د مکې مشرکينو چې کله وويل «**وما الرحمن**» (فرقان – ٦٠) نو د دې ترشا ژبنۍ شاليد دا و، چې رحمان عربي کلمه نه وه او له سبائی او حميري ژبې نه راغلې ده. د يمن او حبشې نصرانيانو به الله ته رحمن ويل. قرآن کريم چې دا کلمه د تعريب له لارې الله تعالی ته وکاروله، نو د مکې اوسېدونکو ته دا کلمه نااشنا ښکاره شوه او ويې ويل چې «رحمن څه دی؟» په قرآن کريم کې د غيرعربي کلمو شمېر تر سلو ډېر ښودل شوی دی، چې له فارسي، رومي، نبطي، حبشي، عبراني، سرياني، قبطي ژبو څخه راپور شوي دي.

قرآن کريم سره له دې چې د قريشو په ژبه کې نازل شوی، مګر د نورو قبايلو ژبه هم په کې کارول شوې ده. مثلاً په قرآن کريم کې د «فاطر» کلمه راغلې ده. عبدالله بن عباس رض چې يو قريشي مسلمان و، وايي چې: «**ما كنت ادرى معنى (فاطرالسماوات والارض) حتى سمعت اعرابيا يقول لبئر ابتدأ حفرها: انا فطرتها**» يانې زه د «فاطر السماوات والارض» په معنا نه پوهېدم، تر دې چې يوه کوچي د څاه په کيندلو نوی پيل کړی و، نو له هغه مې واورېدل، چې ويې ويل «انا فطرتها».

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابو هریره رض وايي: «**ما سمعت السکین الا فی قوله تعالی** (یوسف – ۳۱) **ما کنا نقول الا المدیّة**.» يانې ما د سکین (چاقو) کلمه لومړی ځل په قرآن کريم کې واورېدله. له هغه نه مخکې به مو مدیّه ورته ویل.

ډېرې داسې کلمې وې، چې د عربو قبایلو په بېلابېلو لهجو کې دود وې. قرآن کريم په هغو کې ډېره فصيحه کلمه انتخاب کړه او په خپل ادب کې يې ځای ورکړ. مثلاً د قريشو په نزد چې د کوم مفهوم لپاره د اعطی کلمه وه، د هغې لپاره به حميرين قبيلې د انطی کلمه ويله. قرآن کريم انطی کلمه پرېښوده او اعطی کلمه يې غوره کړه. همدا راز د شناتر په ځای اصابع او د کتع په ځای ذئب او داسې نور. قرآن اصلاً د قريشو په ژبه کې نازل شوی دی. خو په ګڼو ځايونو کې يې د قريشو ژبه پرې ايښې او د نورو قبيلو اسلوب يې غوره کړی دی. مثلاً **لايلتکم من اعمالکم** د بني عبس په ژبه کې دی. (الاتقان)

په دې ډول قرآن کريم الفاظو او اساليبو ته نوي وسعتونه او نوې ښکلا وروبښله او د اعلی عربي ادب ېبلګه يې وړاندې کړه. دا ېبلګه دومره لوړه وه، چې له هغه وروسته هېڅ اديب تر هغه برتر معيار ونه شو پنځولی. د همدې لپاره عربي ژبه د تل لپاره د قرآن کريم ژبه وګرځېده.

په عربو کې مثالونه او تعبيرات له پخوا زمانې راهيسې دود وو، خو قرآن دغه ادبي ابزار په ډېره غوره پيرايه کې بيان کړل. مثلاً د ژوند بې ثباتي يوه پخواني عربي شاعر په دې ټکو کې شعر کړې ده:

**کل بن انثی و ان طالت سلامته** ژباړه: انسان چې هر څومره موده روغ هم پاتې شي،

**یوما علی آلة حدباء محمول** يوه ورځ به يې تابوت ارومرو په سرونو بارېږي.

قرآن کريم دغه خبره په دې ټکو کې بيان کړې ده: **كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ** (آل عمران – ۱۸۵)

په لرغوني عرب کې وژنې او قتلونه تر ټولو لويه مسئله وه. دې وضعيت څو عبارتونه زېږولي وو، چې په هغه زمانه کې د فصاحت کمال ګڼل کېدل. دوی ويلي و، چې د قتل علاج قتل دی او دغه تصور يې په لاندې بېلا بېلو الفاظو کې موزون کړی و:

«**قتلُ البعضِ احياءٌ للجميعِ**» يانې د ځينو خلکو وژل د ټولو ژوند دی.

«**اکثِرُوا القتل ليقلِّل القتلُ**» يانې وژل ډېر وکړئ، تر څو وژنې کمې شي.

«**القتلُ اَنفى للقتلِ**» يانې د وژنو تر ټولو ډېره مخه وژل نيسي.

قرآن کريم دا تصور په دې الفاظو کې راوړی دی: «**وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِيْ الأَلْبَابِ**» (بقره: ۱۷۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له قرآن دمخه په عربي او د نړۍ په ټولو ژبو کې شعر ډېر لوړ مقام درلوده. خلکو د شعر په ژبه کې د خپلو فکرونو بيانول ډېر لوی کمال باله. قرآن کريم دغه عام روش پرېښوده او د نثر ژبه يې خپله کړه. دا ټکی پخپله د دې ثبوت دی، چې قرآن کريم الهي کلام دی. په دې چې په اوومه پېړۍ کې په دنيا کې يوازې لايزال خدای په دې خبره پوهېدی شوی، چې د انسانيت په نوم د ابدي کتاب د استولو لپاره د نثر اسلوب بايد انتخاب شي، نه د شعر؛ ځکه په راتلونکي کې شعر خپل اهميت بايلونکی دی. بله دا وه، چې پخوا د يوې خبرې د مبالغې په ژبه کې کولو ته هم د ادبي کمال په سترګه کتل کېدل. قرآن کريم د ادب په تاريخ کې لومړی ځل واقعيت ليکنه رواج کړه. پخوا مينه او جګړه تر ټولو ډېر مقبول مضمونونه وو. قرآن کريم په خپله لمنه کې اخلاقي، قانوني، ساينسي، ارواپوهنيز، اقتصادي، سياسي، تاريخي او داسې نور موضوعات هم بيان کړل. پخوا به د کيسو او حکايتونو په ژبه کې يوه خبره بيانېدله. قرآن کريم د مستقيمې ژبې اسلوب خپل کړ. پخوا به قياسي منطق د ثبوت لپاره کافي ګڼل کېده، مګر قرآن کريم د علمي استدلال له حقيقت نه دنيا خبره کړه. په دې ټولو سربېره لويه خبره دا ده، چې په قرآن کريم کې دا هر څه په دومره لوړ اسلوب بيان شوي دي، چې د هغو مثال راوړل د انسان له وس نه وتلې خبره ده. په پخوانو عربو کې دا مقوله وه، چې **ان اعذب الشعر اکذبه** (تر ټولو خوږ شعر هغه دی، چې تر ټولو لوی دروغ په کې ويل شوي وي.) خو قرآن کريم د بيان يو نوی طرز (رحمن: ۴) ايجاد کړ، چې د مفروضه مبالغو په ځای واقعيت په کې و او د حقيقت‌پلوي ادب بېلګه يې وپنځوله. قرآن د عربي ژبې او ادب واګې په خپل لاس کې واخيستې. د جاهلي ادب ټوله پانګه چې نن ورځ خوندي ده، هغه ټوله د قرآن کريم د ژبې د خونديتوب او په دې ژبه باندې د پوهېدو لپاره راټوله شوه. دغه راز صرف او نحو، معاني، بيان، لغت او تفسير، حديث او فقه، علم کلام، ټول د قرآن د معانيو او مطالبو د حل کولو او د دې کتاب د اوامرو او نواهيو د شرحې لپاره ترتيب او تدوين شول، ان کله چې عربانو تاريخ، جغرافيه او نور علوم هم ور خپل کړل، نو هغه هم د قرآن کريم په احکامو او هداياتو باندې د پوهېدو او په هغو باندې په سمه توګه د عمل کولو هڅه وه. له قرآن کريم نه پرته په تاريخ کې بل داسې ساری نشته، چې يوه کتاب دې کوم قوم دومره ډېر متاثر کړی وي.

قرآن کريم چې په عربي ژبه کې د تصرف له لارې کوم اعلی ادب ايجاد کړ، هغه ادب دومره جدا او بديهي دی، چې هر هغه کس چې په عربي ژبه پوهېږي، هر وخت کولی شي چې قرآن کريم د عربي ژبې له بل کتاب سره پرتله کړي او ويې ګوري. د قرآن کريم ادب پر عام انساني ادب دومره لوړتيا لري، چې هېڅ عربي‌دان ورنه مخ نه شي اړوی. په دې ځای کې به د مثال لپاره موږ يوه واقعه راوړو، تر څو دغه فرق يې ښه واضح شي. طنطاوي جوهري ليکي چې «په ۱۳ جون ۱۹۳۲ کې مې له يوه مصري اديب استاد کامل ګيسوۍ سره وليدل. هغه يوه عجيبه کيسه راته وکړه. هغه وويل، چې زه له يوه امريکايي مستشرق فنکل سره وم. زموږ د دواړو ترمنځ ښه زوړ ادبي تعلقات وو. يوه ورځ هغه ورو په غوږ کې راته وويل، چې «آيا ته هم له هماغو خلکو نه يې، چې قرآن يوه معجزه ګڼې؟» له دې خبرې سره يې په ډېر بامعنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

انداز کې وخندل، چې معنا يې دا وه، چې دا عقيده هېڅ حقيقت نه لري او مازې د تقليد له مخې مسلمانان په دې عقيده ولاړ دي. دی په دې فکر و، چې داسې غشی يې وار کړی دی، چې مخنيوی يې ډېر مشکل دی. خو ماته هم د ده په حال خندا راغله او ورته ومې ويل، چې د قرآن کريم د بلاغت په هکله د قضاوت لپاره ضرور ده، چې موږ دا تجربه وکړو، چې آيا موږ د قرآن کريم په څېر کلام راوړلی شو يا نه. چې تجربه مو وکړه، نو پخپله به معلومه شي، چې آيا د دغسې کلام د ليکلو وس لرو يا نه.

بيا مې استاد فنکل ته وويل، چې راځه، د قرآن کريم يوه خبره په عربي ژبه کې ادا کړو او تصور دا دی، چې «دوزخ ډېر پراخه دی.» فنکل راسره ومنله او موږ دواړو قلم او کاغذ راواخيستل. موږ دواړو شاوخوا شل عربي جملې جوړې کړې او هڅه مو کړې وه، چې پاسنی مفهوم په بېلابېلو کلمو کې ادا کړو. هغه جملې دا وې:

- ان جهنم واسعة جدا
- ان جهنم لا وسع مما تظنون
- ان سعة جهنم لا يتصورها عقل الانسان
- ان جهنم لتسع الدنيا كلها
- ان الجن والانس اذا دخلو جهنم لتسعهم ولا تضيق بهم
- كل وصف في سعة جهنم لا يصل الى تقريب شئ من حقيقتها
- ان سعة جهنم لتصغر امامها سعة السماوات والارض
- كل ما خطر ببالک فی سعة جهنم فانها لا رحب منه و اوسع
- سترون من سعة جهنم ما لم تكونوا لتحلموا به او تتصوروه
- مهما حاولت ان تتخيل سعة جهنم فانت مقصرو لن تصل الى شئ من حقيقتها
- ان البلاغة المعجزة لتقصر و تعجز اشد العجز عن وصف سعة جهنم
- ان سعة جهنم قد تخطت احلام الحالمين و تصور المتصورين
- متى امسكت بالقلم و تصديت لوصف سعة جهنم احسست بقصورک وعجزک
- ان سعة جهنم لايصفها وصف ولا يتخيلها وهم ولا تدور بحسبان
- كل وصف لسعة جهنم انما هو فضول و هذيان

زموږ د دواړو هڅه چې پای ته ورسېده او د نورو عبارتونو الفاظ راپاتې نه شول، نو ما پروفيسر فنکل ته په فاتحانه سترګو وکتل او ومې ويل، «اوس مو چې خپله ټوله هڅه وکړه او د ياد مفهوم لپاره مو خپل عبارتونه برابر کړل، نو اوس به د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرآن بلاغت درباندې روښانه شي.» پروفیسر فنکل وویل، «آیا قرآن دا مفهوم له موږ نه هم په ډېر بلیغ اسلوب کې بیان کړی دی. نو ما ورته وویل، چې موږ د قرآن کریم په مقابل کې بالکل ماشومان ثابت شوو. هغه په حیرانتیا وپوښتل، چې په قرآن کې څه راغلي دي. ما د سوره ق دا آیت ورته ولوسته، «**يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِن مَّزِيدٍ**.» د آیت په اورېدو د فنکل خوله وازه پاتې شوه او د دې بلاغت په لیدو حیران پاتې شو. بیا یې وویل، «**صدقت نعم صدقت و انا اقرر لک ذلک مغتبطا من کل قلبی**.» یانې رښتیا دې وویل، بیخي رښتیا دې وویل، زه د زړه له کومې د دې خبرې اقرار کوم.

ما ورته وویل، چې دا د حیرانتیا خبره نه ده، چې تا د حق اعتراف وکړ، په دې چې ته ادیب یې او د اسالیبو په اهمیت ډېر ښه پوهېږې. نوموړی مستشرق له انګریزي، الماني، عبراني او عربي ژبې سره ښه بلد و او د ادبیاتو په مطالعه کې یې خپل ټول عمر تېر کړی و.

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**